د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

**د توضيحي پاڼو لړۍ**

ډاکټرانتونيو جيوستوزي ليکنه | د ۱۳۸۸ کال د سلواغې مياشت

# د ملاتړ او بغاوت تر مينځ
# په افغانستان کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه

## منځپانګه

۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسيزې (۱۳۳۹-۱۳۴۹)........................ ۱
۲. له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: يو بيل چاپيريال......... ۵
۳. د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: ملاتړ اود پرمختګ مفهوم ........ ۷
۴. له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: د بغاوت څپې.......... ۱۲
۵ وروستی نظريې او پای لې.................................. ۱۵
ضميمه: د يادو شوو سازمانونو لنډيز.................................. ۱۶

**د ليکوال په هکله**

**ډاکټرانتونيو جيوستوزی**

ډاکټرانتونيو جيوستوزي د کړکيچنو حالاتو د څېړنې د مرکز(LSE) غړی دی. نوموړی د۱۳۸۸ Empires of Mud: په افغانستان کې جګړه او جګړه ماران او Decoding the New Taliban (د نوو طالبانو د رمز راسپړلو)، په ګډون چې ده تصحيح کړې دي بيلا بيل موضوعات، رپوټونه او کتابونه يې ليکلي دي. نوموړی اوس په افغانستان کې پر پوځيانو، پوليسو، استخباراتو او سيمه ايز نظام د تمرکز په ګډون د حکومتدارۍ په هکله څېړنه تر سره کوي.

## سريزه:

په زياترو هيوادونو کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه د سياست يو مهم اړخ دی او ددې څېړنه او مطالعه د سياسي ګوندونو د ريښې، پراختيا او راتلونکې په هکله دپوهې د تر لاسه کولو لپاره خورا مهمه ده. د زده کونکو سياسي فعاليتونه د نخبګانو را مينځ ته کيدو پورې اړوندې دي ، ځکه چې نخبګان د سياست په ډګر کې خپل لومړني ګامونه اکثراً د زده کوونکو د سازمانو له لارې پورته کوي. نن په افغانستان کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه د دوو قطبونو ملاتړ او بغاوت تر مينځ روان دي او ددې د مطالعې له لارې موږ کولای شو چې د افغان سياست راتلونکې ته يوځغلنده نظر واچوو.

که څه هم چې په افغانستان کې دزده کوونکو سياسي فعاليتونه د يوې ډيرې علمي پاملرنې د بحث موضوع نه وه، خو مونږ پوهيږو چې په ۱۹۶۰-۱۹۷۰ لسيزو کې(۱۳۳۹-۱۳۴۹) يې د سياسي ګوندونو په رامينځ ته کيدو کې يې مهمه ونډه درلودله، چې په خپل وار سره يې د ۱۹۷۰-۱۹۸۰ لسيزې (۱۳۴۹-۱۳۵۹) په وروستيو کې يې په ډله ايزو سياسي فعاليتونوکې د افغانستان ور داخليدل يې سمبال کړې دي. ددې مطالعې موخه له دې کبله څوګونه ده څو: د پوهې په ډګر کې شته تشه ډکه کړي، د څو تيرو لسيزو په پرتله د زده کوونکو په ننيو سياسي فعاليتونو کې د پام وړ بدلونونه وڅيړي، او په پای کې ددغه ميلان څيپيژندګلوي به ښايي مونږ ته د افغان سياسي فعاليتونو د راتلونکې په لور لارښوونه وکړي. نوموړې څيړنه د څه دپاسه ۱۰۰ مرکو پر بنسټ راڅرخي چې په کابل، هرات، مزار شريف او جلال آباد کې له زده کوونکو او سياسي فعالينو سره او څه د پاسه ۱۲ مرکې د پخوانيو (۱۹۶۰-۱۹۷۰) لسيزو له فعالو زده کوونکو سره تر سره شوې دي.

## ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسيزې(۱۳۳۹-۱۳۴۹)

په افغانستان کې د ننې سياسي فعاليتونو ريښې۱۹۶۰-۱۹۷۰ لسيزې ته رسيږي د اهغه وخت دی چې د افغانستان ګڼ شمير سياسي خوځښتونه چې په کورنۍ جګړې او د ننې سياست په ډګر کې مخکښ دي د همدې کلونو په ترڅ کې رامينځ ته شوې دي. په ځانګړې توګه دا هغه وخت دی چې د کابل پوهنتون له پراخيدو سره چې په ۱۹۴۷ (۱۳۲۶) کې جوړ شوی ؤ د افغانستان دلوستو کسانو ډلې هم د شمير له پلوه يې په پراخيدو پيل وکړ. د پوهنتون دښوونې او روزنې پراختيا د ۱۹۴۰ (۱۳۱۹) کلونو له وروستيو څخه د افغان حکومت له لومړيتوبونو څخه ګڼل کيده؛ لوړو ز ده کړ و د ښو و نې، او روزنې د پام وړ بوديجه يې ځانته راجلب کړه کله چې په ۱۹۶۹ (۱۳۴۸)کال کې له ۴۰ سلنې څخه لوړه شوه نو ټولو معيارونو ته په پام سره يوه

حیرانوونکې سلنه وه (لومړي جدول ته ځیر شی).[1]که څه هم چې سلطنت غوښتونکو نخبګانود تعلیم یافته وو له نوې ډلې سره چې د را مینځ ته کیدو په حال کې وه د ځواک د شریکولو پلان یې نه درلود؛ د "ډموکراسۍ د لسیزې" تجربې (۱۹۶۳-۱۹۷۲) (۱۳۴۲-۱۳۵۱) په چټکه توګه مختلې (ګډوډې)شوې او په همدې توګه ناهیلو روڼ اندو بیا یې خپل غږ د خورا زیاتې اغیزې په موخه اوچت او په دې توګه ډیر ژر یې خپل دریځ د حاکمو نخبه ګانو په وړاندې بدل کړ. په ۱۹۶۰-۱۹۷۰ لسیزه(۱۳۳۹-۱۳۴۹) کې د تعلیم یافته وود ډلې سخت دریځي د ۱۹۷۳ (۱۳۵۲) او تر هغې وروسته د افغان د ولت د کړکیچ یو لامل ؤ.

په ۱۹۵۰ (۱۳۶۹) کال کې د حکومت له ملاتړو (کلپ ملي) له خوا د زده کوونکو د ټولنې د رامینځ ته کیدو هڅه وشوه خو ددې پایله هغه وخت معکوسه شوه کله چې په لومړني مجلس کې د مخالفې ډلې یعنې ویښ ځلمیانو سره د غړو په مینځ کې خواخوږي رامینځ ته شوه. د حکومت د هڅو سره سره چې غوښتل یې ددې ټولنې په مینځ کې سیاسي فعالیتونو څخه مخنیوی وکړي نوموړې ټولنه په چټکۍ سره سیاسي شوه. زده کوونکو ډیر ژر یې د عمومي ټولنو په مینځ کې یې د خپلو فعالیتونو په خپرولو پیل وکړ، آن ځینې وختونه ولایتونو ته به یې سفر کاوه. پس له څو میاشتو پر نوموړې ټولنې بندیز ولګیده.[2]

**لومړی جدول: د لوړو زده کړو لپاره د بودیجې سلنه**

| | ۱۳۳۸-۱۳۳۹ | ۱۳۴۱-۱۳۴۲ | ۱۳۴۸ | ۱۳۸۹ پلان شوی |
|---|---|---|---|---|
| لوړې زده کړې | ۲۳,۷ | ۲۸,۴ | ۴۳,۶ | ۱۰,۷ |
| نور ټول | ۷۶,۳ | ۷۱,۶ | ۵۶,۴ | ۸۹,۳ |

سرچینه: د مرکزی احصائیې اداره

**دوهم جدول: د لوړو زده کړو په موسساتو کې شمولیت**

| | |
|---|---|
| ۱۳۳۹ | ۱۶۹۴ |
| ۱۳۴۹ | ۷۸۳۲ |
| ۱۳۵۹ | ۱۸۰۰۰ |
| ۱۳۶۹ | ۲۴۳۳۳ |
| ۱۳۸۲ | ۳۱۲۰۳ |
| ۱۳۸۳ | ۳۹۵۱۴ |
| ۱۳۸۴ | ۳۹۳۵۴ |
| ۱۳۸۵ | ۴۱۸۹۲ |

سرچینه: د مرکزی احصائیې اداره

نوی نسل چې په ۱۹۶۰-۱۹۷۰ لسیزو(۱۳۳۹-۱۳۴۹) کې په زده کړې بوخت وو هم سیاسي فعالینونو ته یې مخه کړه. له ایران او هندوستان څخه د چپي ډلو قاچاق شوې سیاسي کتابونه به د کابل په ځینو لیسو کې په پټه لوستل کیده؛ د پوهنتونونو په لړ څه آزاد چاپیریال کې له سیاسي بحثونو څخه ملاتړ کیده، چې دا کار ډیر ژر د مباحثې د ډلو د رامینځ ته کیدو او وروسته بیا د سیاسی ډلو د را مینځ ته کیدو لامل شو. په پوهنتون او په ځانګړې ډول د شرعیاتو په پوهنځي کې په عربي ژبه د چاپ شوو کتابونو خپریدل او راکړه ورکړه هم پیل شوه . د لومړنیو را مینځ ته شوو سازمانونو له ډلې څخه یو هم د ښځو ډموکراټیک سازمان ؤ، چې د زده کوونکو د یوې پیاوړې ترکیب په درلودولو سره یوه چپي ډله وه. د خلکو ډموکراټیک ګوند لومړنی را مینځ ته شوی ګوند ؤ چې وروسته نور ګوندونه رامینځ ته شول. په۱۹۶۰ لسیزه (۱۳۳۹) کې زده کوونکې د دواړو پارلماني ټاکنو په کمپاین کې په فعاله توګه ښکیل وو.[3] د افغان سیاسي ډګر یو شمیر نومیالیو شخصیتونو لکه : ډاکټر نجیب الله، ګلبدین حکمتیار، احمدشاه مسعود او یو شمیر نورو په فعاله توګه په همدې پړاو کې یې خپل لومړني ګامونه پورته کړل. ځینو لکه ببرک کارمل د زده کوونکو په سیاسي فعالیتونو کې له پخوا څخه فعالیت درلود( نوموړې په ۱۳۲۹ کال کې د زده کوونکو د ټولنې ټاکل شوې مشر ؤ).[4]

هغه نوې سیاسي ډلې چې په دې وخت کې رامینځ ته شوې وې موخه یې د روشنفکرانو جذبول وو چې په دې توګه د پخوانیو ګوندونو سره یې توپیر درلود. د افغان سیاسي ډلو دوهم نسل د پوهنتون د زده کوونکو (او د ښونځیو) تر مینځ له خپلو ریښو له مخې ځانګړې کیږي. چې دا د تعلیم یافته وو ډلو څخه جوړ ګوندونه وو. د خلکو ډموکراټیک ګوند د خپل له رامینځ ته کېدو وروسته په کال ۱۳۴۴ کې د زده کوونکو د ټولنې په ټاکنو کې یې خپله ونډه په ښه توګه ولوبوله، خو وروسته بیا ددې ډلې تر مینځ سیالۍ پیل شوې چې په پایله کې یې دغه ګوند په دوو اصلي او ګڼ شمیر نورو وړو ډلو وویشل شو او په دې توګه ددوی غوښتنې کمزورې او د دوی رایې وویشل شوې. د ماویستانو ډله یعنې د پرمختللو ځوانانو سازمان(سازمان جوانان مترقي) په څو سیالو ډلو له ویشل کیدو وړاندې له شهرت څخه برخمن ؤ.[5] اسلام پاله ډله یا مسلمان ځوانان( جوانان مسلمان) ددې ډګر په صدر کې یې ځای درلود؛ په ۱۳۴۹ او ۱۳۵۹ کلونو کې د کورني انشعاب له امله په دریو ډلو لکه اسلامي ګوند، د جمعیت اسلامي، او اتحاد اسلامي باندې وویشل شو چې دې کار د زده کوونکو د ټولنې په ټاکنو کې یې ددوی کړنې اغیزمنې نه کړې. د افغان ملت، ملت پاله ډله او همدا راز یو شمیر واړه مینځ پالې ډلې لکه د پخواني صدراعظم میوندوال ډله او د ذبیح الله عصمتی د صدای ارمنان ډله د زده کوونکو په مینځ

[1] د سیمي له هیوادونو سره د پرتلې لپاره دْ ښووني او روزنې سیاستونه، د انتونیو جیوستوزي لیکنه وګورئ (کابل: د افغانستان د شننونکو شبکه، راتلونکي)، ۷ جدول.

[2] توماس روتینګ (برلین: همبولدت- د برلین پوهنتون ۱۹۸۵).

۳ د ثریا پرلیکا سره مرکه، کابل ، د ۱۳۸۷ کال د کب میاشت.

۴ د توماس روتینګ سره خصوصي اړیکې، د ۱۳۸۸ کال د مرغومې میاشت.

۵ د ماویستانو او د دوی د بی ثباتۍ په هکله دافغان ما ویستانو په هکله د ابراهیمي راتلونکې لیکنه وګورئ

کې نوري فعالې ډلې وې. د مرکه شوو د خبرو پر بنسټ د شپیتمې لسیزې په وروستیو کې د زده کوونکو د ټولنې شورا له څلورو ماویستو، درې پرچمیانو، یو خلقي، دوه اسلام پالې او یو دیوې ورې مینځ پالې ډلې له غړو څخه جوړه وه. د ماویستانو ډلې تر یوه وخته پورې یې یوه ستره پاملرنه ځانته را جلب کړې وه او په ښار کې انګازې خپرې وې. د۱۹۷۰ لسیزې (۱۳۵۰) تر پیله، دوی په دې وتوانیدل چې د زده کوونکو د ټولنې ټاکل شوې شورا ته ۲۵ غړې واستوي،[۶] لکه څرنګه چې په پوهنتون کې له ولایتونو څخه د ډیرو سنتي ځوانانو جذب مخ په پراخیدو ؤ نو په دې توګه اسلام پالې ډلې هم پیاوړې کیدې. د مسلمانو ځوانانو (جوانان مسلمان) ډلې د پرچم د ډلې سره په مساوي ډول د خپلو ټاکل شوو غړو له لارې په شورا کې یې اته څوکۍ ځانته کړې وې. او د خلق ډلې هم ولایتونو څخه د زیات شمیر زده کوونکو د مخ په زیاتیدونکې جذب له لارې یې په شورا کې ګټه پورته او په دې توګه یې اووه څوکۍ تر لاسه کړې وې. او د ختیځو ولایتونو زده کوونکو د افغان ملت له ډلې سره یې د څلور څوکیو په ګټلو کې مرسته وکړه. او په دې توګه اسلام پالو ډلو د زده کوونکو د ټولنې په وروستیو ټاکنو کې د اکثریت په ګټلو سره یې ددې ټولنې مشرې په غاړه واخیسته تر څو چې داود خان د ځواک واګې یې تر لاسه کړې او دوی یې له صحنې څخه لیرې کړل.[۷]

په ټولیزه توګه د زده کوونکو خواخوږي د بدلون په حال کې وه چې دا د زده کوونکو د شورا په ټاکنه کې د ګڼ شمیر د ګډون له مخې اټکل کیدای شي چې په دې کې ایدیالوژیکي دود دستور (شوروي پلوې، ماویست، اسلام پلوې، ملت پال، او داسې نور) یو سترلامل بلل کیده. که څه هم چې د ملاتړ نښې نښانې ډیرې لږې وې خو په جلب او جذب کې یې مهمه ونډه درلودله؛ په حقیقت کې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ارزښتونو یا اصولو مخالفو سازمانونو بشپړ بر والی په دې وخت کې په ملاتړ پورې د نه تړاو یو ښه شاخص بلل کیږي.[۸]

یوه مهمه څرګندونه دا ده چې په لوستو خلکو د دغه یون د اتکأ اندازه، د لومړنیو ډلو د سیاسي او ټولنیزو کړو وړو تر مینځ یو نسلي توپیر څرګندوي. ګڼ شمیر زده کوونکي ووچې د بیلا بیلو بنسټ پالو ډلو سره د یو ځای کیدنې له کبله له خپلې کورنیو څخه منفردیدل. چې دغه حالت د هغو خلقي فعالینو او آن د زیاترو ماویستو فعالینو په برخه کې هم لیدل کیدو چې له سنتي کلیوالو کورنیو څخه وو. که څه هم چې د دې فعالینو له ډلې څخه ځینې یې د لیبرالو روڼ اندو زامن وو(۱۳۱۹-۱۳۲۹) ( لکه ویښ ځلمیان او نورې ډلې) او په دې توګه ددوی تر مینځ یو پیاوړی اتصال لیدل کیده چې د زیاترو اسلام پالو فعالینو په سیاست کې د روحانیونو د نفوذ ضد کړو وړو د دوی او د دوی د پلرونو تر مینځ یې ځینې مخالفتونه پیدا کړل.[۹] د غیر جهادي ډلو ځینې مشران چې په ۱۳۴۰ لسیزه کې رامینځ ته شوي ؤ دغه تشه یې ډکه کړه ځکه چې دوی په ۱۳۱۹-۱۳۲۹ پورې د د لیبرالو اصلاح غوښتونکو په توګه یې خپل فعالیتونه پیل او په تدریجي توګه په بنسټ پالو بدل شول چې په دوی کې د ببرک کارمل (د خلق ډموکراتیک ګوند او پرچم د بنسټ ایښودونکو په ډله کې)، او عبدالرحمن محمودي هغه چا چې ماویستي مفکوره یې افغانستان ته راوړه شامل دي. په همدې توګه د مسلمانو ځوانانو د ډلې د فعالینو (جوانان مسلمان) اړیکې په اصل کې له خپلو پلرونو سره نه وې شلیدلې؛ ددې ډلې کړه وړه تر یوه حده کولای شو په هغه وخت کې د افغانستان په ټولنه کې د خپرو سنتي مذهبي کړو وړو د عصري کولو پر لور یوه هڅه وبولو.

د حاکمو نخبه ګانو د لوڼو پرته، نورو افغان نجونو په (۱۳۴۰-۱۳۵۰) ور وروو یې په پوهنتون کې د زده کړې لپاره لاره وموندله. د ۱۳۲۹ کلونو په اوږدو کې د ښځینه زده کوونکو حضور په کابل پوهنتون کې د یوې کوچنۍ لږکۍ په توګه ترسترګو کیده؛ په حقیقت کې د ۱۹۵۰ لسیزې (۱۳۲۹) په اوږدو کې د زده کوونکو ټولیزه شمیره را ټیټه شوې وه، او په ۱۹۶۰ لسیزه (۳۳۹) کې لکه څرنګه چې ډیرو سنتي ولایتونو لاس رسي پوهنتون ته مخ په زیاتیدو وه نو د ښځینه زده کوونکو په شمیر کې هم د پام وړ بدلون لیدل کیده. یواځې په ۱۳۵۹ کلونو کې هغه وخت چې نارینه به پوځ ته د خدمت لپاره لیږل کیدل او په حقیقت کې د پوهنتون جلب او جذب یواځې په ښارونو پورې محدود شوی ؤ نو د ښځینه زده کوونکو په شمیر کې ثابت او د پام وړ زیاتوالی رامینځ ته شو. په ۱۳۶۹ کلونو کې ښځینه زده کوونکو د زده کوونکو ۴۰ سلنه یې جوړوله. آن واک ته د اسلام پالو مجاهدینو له رسیدو وروسته په ۱۳۷۱ کال کې د شوروي اتحاد له پرغله مخکې دورې په پرتله د ښځینه زده کوونکو شمیر لاهم لوړ ؤ (په ۱۳۷۴ کال کې۳۱ سلنه). دا ټول د طالبانو د واک په دوران کې هغه وخت چې د ښځو پر ښوونه او روزنه بندیز ولګیدو بدل شول. آن د طالبانو له را پرځیدو څخه وروسته د لیبرال حکومت په وخت کې د ۱۳۷۴ په پرتله د ښځینه زده کوونکو شمیر ه خورا لږ وه؛ په ۱۳۸۴ کال کې تر ټولو لوړه سلنه په منځنۍ توګه ۲۲.۴ سلنه ښودل شوې وه چې بیا په دوو وروستیو کلونو کې د پام وړ کمښت په کې تر سترګو کیده. ( دریم جدول).

د ۱۳۳۹-۱۳۴۹ کلونو په ترڅ کې سره له دې چې د سیاسي فعالیتونو کچه د نارینه وو په پرتله کمه وه خو د ښځینه زده کوونکو په مینځ کې سیاسي فعالیتونه د پام وړ وو. په اصل کې سیاسي فعا لیتونه یواځې د کابل ولایت د ښځینه زده کوونکو او د یو شمیر نورو ښارونو د ښځینه زده کوونکو په مینځ کې لیدل کیده؛ د هغو ښځینه زده کوونکو په مینځ کې چې له ولایتونو څخه وې سیاسي فعالیتونه یا خو هیڅ نه

[۶] دغه شمیرې د پخوانیو ټاکنو سره د پرتلې وړ نه وې ځکه چې په شورا کې د څوکیو په شمیرکې د پام وړ زیاتوالی راغلی ؤ.

[۷] په کابل کې د پخوانیو زده کوونکو د فعالینو سره مرکې.

[۸] په ۱۳۳۹-۱۳۴۹ کلونوکې د زده کوونکو د یون د ګډون کوونکو سره د مرکوپر بنسټ، کابل، لندن، او نورو ځایونو کې(۱۳۸۵-۱۳۸۸)

[۹] ددې پړاو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د تي روتینګ اسلام پالې چپیان- او په مرکز کې تښه (Islamist, Leftist- and a Void in the Center) وګورئ. د افغانستان سیاسي ګوندونه او ددوی منشا (۱۲۸۱-۱۳۸۵) (Konrad Adenauer Stiftung.2007)

وو او که وو خو ډیر لږ وو، ددغو نجونو شمیره چې له ولایتونو ښځه د زده کړې لپاره پوهنتونونو ته راتللې په هغو ولایتونو کې د خپرو دودونو له کبله ټیټه وه ځکه چې د کورنۍ ښځه لیرې د زده کړې لپاره د نجونو لیږل یې ناوړه کړنه بلله. د پوهنتون ښځینه زده کوونکې اکثراً د بډایه کورنیو ښځه وې نو له دې کبله د ډیرو سخت دریځو ډلو له خوا ددوی د جذب احتمال ډیرکم ؤ. په حقیقت کې د ښځو زیاتره سیاسي فعالیتونه په یوې ډلې یعنې د خلق د دموکراتیک ګوند په یوې ډلې یعنې پرچم کې متمرکزې وې . په افغانستان کې د فعالو ښځو لومړنۍ سازمان د ښځو دموکراتیک سازمان ؤ چې له همدې ډلې ښځه را مینځ ته شو.[10]

**دریم جدول: په پوهنتون کې د جنسیت له مخې شاملیدل(٪)**

| کال | نارینه | ښځینه |
|---|---|---|
| ۱۳۳۰ | ۹۱,۲ | ۸,۸ |
| ۱۳۳۵ | ۹۵,۰ | ۵,۰ |
| ۱۳۳۹ | ۹۰,۷ | ۹,۳ |
| ۱۳۴۴ | ۸۰,۱ | ۱۹,۹ |
| ۱۳۴۹ | ۸۵,۹ | ۱۴,۱ |
| ۱۳۵۴ | ۹۰,۸ | ۹,۲ |
| ۱۳۵۶ | ۸۴,۷ | ۱۵,۳ |
| ۴۲,۴ | ۵۷,۶ | ۱۳۶۹ |
| ۳۰,۹ | ۶۹,۱ | ۱۳۷۴ |
| ۱۹,۹ | ۸۰,۱ | ۱۳۸۲ |
| ۲۱,۰ | ۷۹,۰ | ۱۳۸۳ |
| ۲۲,۴ | ۷۷,۶ | ۱۳۸۴ |
| ۱۸,۵ | ۸۱,۵ | ۱۳۸۵ |
| ۱۷,۵ | ۸۲,۵ | ۱۳۸۶ |

سرچینه: د مرکزی احصائیي اداره

[10] د ثریا پرلیکا سره مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د وږي میاشت.

## ۲. له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: یو بیل چاپیریال

د ۱۹۳۹ او ۱۳۴۹ کلونو څخه پاتې شوو فعالینو هڅه کوله څو د ځینو دلایلو له مخې د ۱۳۸۰ کال څخه را وروسته زده کوونکي ددوی د مخکینو دورو په پرتله محافظه کار وښیي. د ۱۳۷۱- ۱۳۸۰ پورې پر ښوونیز نظام د اسلام پالو او یا د بنسټ پالو ډلو کنټرول د نوي نسل آن د هغو زده کونکو په فکرونو یې سترې فرهنګي نښې نښانې پر ځای پرېښودلې، چې له طالبانو او اسلام پالو سره یې کومه خواخوږي نه درلودله. آن هغو کسانو چې له هیواد څخه بهر په ځانګړې توګه په پاکستان کې یې زده کړې کړې وې کیدای شي چې د خپلو پلرونو او میندو په پرتله چې منځنۍ زده کړې یې کړې دي زیات محافظه کار کړه وړه ولري؛ ډیر ځلې پلرونه او میندې د خپلو لیبرالو کړو وړو له کبله د خپلو زامنو او لونو له خوا تر نیوکو لاندې راغلي دي.[11] دا خبره د هرات د غیر مذهبي وګړو له خوا چې ډیر ځله یې په پوهنتون کې د خپرې مذهبي فضا له کبله یې د ویرې احساس درلود په ښکاره ډول تایید شوې ده.[12] د مذهبي رسمونو لورته تمایل د پیاوړې کیدو په حال کې دی. د ننګرهار په پوهنتون کې د پراختیا په هکله بحث کې دا روښانه شوه (وروسته پرې بحث شوی)، خو دغه تمایل په نورو ځایونو کې هم تر غوږ کیږي لکه په ۱۳۸۸ کال کې د روژې د مبارکې میاشتې په مناسبت د کابل د پولیتخنیک په پوهنتون کې استادانو ګڼ شمیرزده کونکې یې جومات کې سره یوځای غونډ کړل، چې داسې یو عمل په ۱۳۴۹ کلونو کې د حیرانتیا خبره وه.[13] د ۱۳۳۹-۱۳۴۹ کلونو سره بل توپیر دا دی چې د ۱۳۸۰ کا څخه وورسته سیاسي فعالیتونه د پوهنتون د چارواکو له خوا د یو رسمي بندیز له لارې خپه کړای شول. اوس مهال دکابل په پوهنتون کې د" سیاسي فعالیتونو د زده کړې "لپاره کوم قانوني ځای شتون نه لري. سره له دې چې دا کار په بشپړه توګه نه دی پلې شوی( استدلالونه او بحثونه لا تر اوسه هم تر سره کیږي)، نوموړې بندیز د زده کوونکو لپاره د ګوندونو د جوړولو او دسیاسي فعالیتونو فرصتونه یې کم کړي او همدا راز دا نه شو ویلای چې دې کار یوه ستره اغیزه یې پرځای پرې ایښې ده. ځیني وختونه استادان هغه زده کوونکي رټي کوم چې د سیاسي فعال په توګه وپیژندل شي؛ د بېلګې په توګه، ویل کیږي چې د هرات په پوهنتون کې د افغان ملت د ګوند یو فعال د غچ په توګه یې ټیټې نمرې تر لاسه کړې دي. پخواني نسل په دې باور دی چې افغانستان ته د مصرف پالونکو د ټولنې رسیدل او په یونظام کې له بهرنه د اخلاقي خلا واردول (د ۳۸۰ څخه وروسته)، کوم چې آن د دې د پلویانو له خوا هم د یوې کلکې عقیدې پرته پلې شوې ده هم سیاسي فعالیتونه یې کم کړې دي. هغه شمیر استادان چې په ۱۳۴۹ کلونو کې یې زده کړې کړې دي د ټولیزو فعالیتونو له لارې د بدلون او سمون په را مینځ ته کولو کې د ننیو زده کوونکو پر وړتیا بدګمانه دي؛ هغوی دا باور لري چې ددې زده کوونکو د اکثریت په مینځ کې خودخواهي، واقعیت ګرایي او راحت غوښتنه خپره ده، په داسې حال کې چې یوه ډیره آیډیالیستیکه لړګکۍ د اسلامي خوځښتونو له خوا راښکل شوې ده. په پای کې دا د شک ځای نه دی چې ننې زده کوونکي هم د ۱۳۳۹- ۱۳۴۹ کلونو د زده کوونکو په څیر او آن تر هغې زیات د ژوندانه د لومړنیو اړتیاو له کبله تر فشار لاندې دي ( دوی اکثراً لیلی ته په لوړه ځي)، دا هغه حقیقت دی چې ښایي ځینې دې ته اړ کړي چې سیاسي فعالیتونو ته لومړیتوب ورنه کړي.[14]

په هر صورت په افغانستان کې آن که دیو ستر خوځښت په هکله خبرې هم شوني نه وي د پوهنتون او په ځانګړې توګه ددولتي پوهنتونونو د زده کوونکو په مینځ کې سیاسي فعالیتونه شتون لري. مونږ په خصوصي پوهنتونونو کې سیاسي فعالیتونه مو زیات نه دي موندلي. ځیني فعالیتونه په افغانستان کې د لوړو زده کړو په هکله له شکایتونو څخه راپورته کیږي. هغه شمیر زده کوونکو چې د هیواد څخه بهر یې زده کړې کړې ( لکه په ایران کې) داسې ښکاري چې په افغانستان کې د تدریس له څرنګوالي څخه خوشحاله نه برېښي؛ هغه کسان چې له ولایتونو څخه په بهر کې له کومې تجربې پرته راغلي ډیر امکان لري چې د افغانستان د تدریس له څرنګوالي څخه ستاینه وکړي.

لیلیه هغه ځای دی چې په دوديزه ډول یې د زده کونکو د سیاسي فعالیتونو لپاره لاره هواره کړې او دا کارلا تراوسه هم روان دی.[15] هغه کوټه چې یوځل د حکمتیار له خوا نیول شوې وه د زیاتې سیالۍ یوه وسیله ده آن دهغې کوټې څخه ښکته او پورته کوټې زده کوونکو ته خورا ارزښتناکې دي.[16] یو شمیر آیډیالوژیکي بحثونه اوس هم د سیاسي بحثونو د رامینځ ته کیدو لامل کیږي چې کله کله د پوهنتون په انګړ کې خړ پړتیا را مینځ ته کوي. اسلام او غیر مذهبي موضوعګانې د دولت د مشروعیت په څیر ددغو ایډیالوژیکو بحثونو لړۍ ده؛ په حقیقت کې، د رپوټونو له مخې د شرعیاتو د پوهنځي زده کوونکي تر ټولو زیات سیاسي فعالین دي.[17] همدا رنګه د مذهبي فرقه پالنې لومړنۍ نښې هم د یادونې وړ دي، د عاشورا د نمانځنې پر سر خړپړتیا د زده کوونکو په ځانګړې ډول د سني مذهبو تر مینځ کوم چې په رسمي توګه د شیعه مذهب د قانوني کیدو او منل کیدو څخه خوښ نه برېښیده، مذهبي احساسات یې را وپارول.

دغه فرقه ایزې خړپړتیاوې ورو ورو له قومي اختلافاتو سره د یوځای کیدو پر لور ځي چې یوه بیلګه یې د هزاره د قوم او شیعه

[11] د ښځو د حقونو د پخوانۍ فعالې سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت، د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون د یو استاد سره مرکه ، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[12] د هرات د پوهنتون له یوه استاد سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[13] د اسلامي حزب د یوه پخواني غړې سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت.

[14] د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون له استادانو سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[15] په ۱۹۸۳ کال کې د توماس روتینګ لیدنې کتنې (شخصي اړیکې، د ۱۳۸۸ کال د مرغومې میاشت).

[16] د حفیظ منصور سره مرکه، کابل ، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د حز ب اسلامي د یو پخواني فعال سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت.

[17] د ښوونې او روزنې د پوهنځي له یوه استاد سره مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

مذهب پیاوړی تداخل دی. په ۱۳۳۹ او ۱۳۴۹ کلونو کې قومي شخړې د اوس په پرتله خورا لږ ځرګندې وې. په لیلیو کې زده کوونکې هڅه کوي څو قومي ډلې جوړې کړي او له دوی سره اړیکې ولري آن هلته پټې ناستې هم تر سره کوي.[۱۸] په حقیقت کې د افغانستان په پوهنتونو کې قومیت د سیاسي موضوعاتو له ډلې څخه داسې یوه موضوع ده چې کولای شي زده کوونکې په پام وړ کچه وهڅوي.[۱۹] ګڼ شمیر زده کوونکې له ټولو قومونو څخه (خو په ځانګړې توګه هزاره ګانو او تاجیکانو) د پوهنتون په انګړ کې یې د قومي خړپړتیاوو دشتون یادونه یې وکړه. په مزار شریف کې د کابل په څیر د "پوهنتون "د کلمې پرځای د "دانشګاه" د کلمې د په کارولو پرسر نښتې یې رامینځ ته کړې چې ددې نښتو په ترڅ کې په مزار شریف کې یو کس ووژل شو. د ملي امنیت ریاست ددې موضوع فعالینو ته یې د دوی د کړنو د پایلو په هکله یې خبرداری ورکړ. په حقیقت کې د ملی امنیت د ریاست شتون (چې د پوهنتون په انګړ او په لیلیه کې د زده کوونکو یوه خاصه ځانګه لري) دزده کوونکو د ویرولو لامل شو او په دې توګه یې دهغوی د سیاسي بیانونو څخه یې مخنیوی وکړ؛ په مهمو سیاسي پوځې ډلو پورې د اړوندو ډلو شتون هم د ویرې یو مهم لامل بلل کیږي (د بغاوت څپه: د ۱۳۸۰ کال وروسته، ۱۴مخ وګورئ).[۲۰]

د هزاره زده کوونکو تر مینځ قومي بصیرت خورا لوړ دی ځکه چې تعلیم یافته هزاره ځوانان هڅه کوي څو د دودیزو مشرانو لکه ملایانو سره مخالفت ولري ځکه چې ددوی په آند فرصت طلبه او مرتجع دي. که څه هم چې پیا وړی مذهبي چال چلند او قومي احساس له یو بل څخه بیلیدلای نه شي، مذهب او عمومي ایډیالوژۍ د لوړو غوښتنو له کبله قومي احساسات یې معتدل کړې دي. په حقیقت کې نه یواځې قوم بلکې مذهبي فرقه هم د هزاره ګانو د بیلوالي او همدا راز د یو بیل هویت په ورکولو کې یو ستر لامل بلل کیږي. په ځینو پوهنځیو کې د هزاره ګانو په وړاندې د تعصب او تبعیض د شتون په هکله خبرې شوې دي، که څه هم چې دا اکثراً د خپلو هزارګانو له خوا رپوټ ورکړل شوی. په حقیقت کې د هزاره زده کوونکو په شمیر کې د پام وړ زیاتوالي یو لږ نارضایتي یې رامینځ ته کړې ده.[۲۱]

پښتانه زده کوونکې هڅه کوي چې د قومي مسأ لو په هکله له نظر ورکولو څخه ډډه وکړي، او یا ستونزو ته په اشارې سره په ناځرګنده توګه بې نظریات وړاندې کول. تاجیکو زده کوونکو خورا په ډاګه یې خبرې کولې ، خو د دوی خبرې پر ژبنیو موضوعاتو متمرکزې وې ( د تاجیکو زده کوونکو په مینځ کې قومي موضوعات د سیاسي هڅونو یو ستر لامل دی چې وروسته پرې بحث کیږي).

د ۱۳۳۹ او ۱۳۴۹ کلونو سره بل توپیر دادی چې له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته په پوهنتون کې د ښځینه ډلو فعالیتونه خورا محدود شوې دي؛ داسې انګیرل کیده چې د اسلام پالو ډلو پراخ شتون یو ګواښ بلل کیده او جلب او جذب یې خورا ستونزمن کړی ؤ. د ۱۳۸۸ کال د وري د میاشتې په لاریون کې چې د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په وړاندې چې د ډیریو په آند یو جنسیتي توپیر ګڼل کیده د لومړي ځل لپاره د ښځینه زده کوونکو د پام وړ شمیرې ګډون درلود چې تر دې وړاندې په بشپړه توګه غیر فعالې وې. که نجونې وغواړي چې تر هر وخته زیات په نورو ټولنیزو فعالیتونو کې ونډه ولري خو د نجونو ګډون په سیاسي فعالیتونو کې لا تر اوسه هم منفي ګڼل کیږي؛ دوی اکثراً په هغو خبرو اترو کې ګډون کوي چې د اف ام راډیو څخه خپریږي، خو هیڅکله په سیاسي بحثونو کې چې د راډیو او ټلویزیون له لارې خپریږي ګډون نه کوي. دښځینه زده کوونکو فعالین اکثراً په فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو تمرکز لري چیرې چې دوی کولای شي آن د مشرتابه ونډه هم ولوبوي لکه د (مهناز پیروز) په څیر چې د کاوش په نامه دویوې مجلې بنسټ ایښودونکې ده. آن په داسې حالاتو کې د سیاسي ډلو له خوا د دغه شان ټولنو ملاتړ کیږي او دغه نجونې د سیاسي ډلو د چارواکو لوڼې دي؛ لکه په کابل کې د میلاد نور ټولنه ، چې د شیخ آصف محسني او د حرکت اسلامي په ډلې پورې تړاو لري.[۲۲]

یو کم شمیر نجونې چې په ځرګنده توګه په سیاسي فعالیتونو کې ښکیل دي د ایران څخه راستنې شوې کډوالې دي او وایي چې غواړي چې له سیاست سره زیات تړاو ولري.[۲۳] په ټولیزه توګه هغه نجونې چې غواړي له سیاسي ډلو سره یوځای شي د خپلو پلرونو او میندو له خوا هڅول کیږي لکه د آزادی غوښتونکو د ډلې د یوې فعا لې په څیر.[۲۴]

[۱۸] د هرات د پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د لغمان ولایت څخه د یوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۱۹] د ښووني او روزنې د پوهنتونله استادانو سره مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۲۰] د ښووني او روزنې د پوهنتون له استادانو سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت. په ۱۳۵۹ کال کې په هر پوړ کې د خاد یوه ډله په دې پلمه چې زده کوونکې دي موجوده وه ( له توماس روتینګ سره شخصي اړیکه، د ۱۳۸۸ کال د مرغومي میاشت).

[۲۱] د کابل په پوهنتون کې د هزاره زده کووکو سره مرکې، د ۱۳۸۸ کال د وږی میاشت.

[۲۲] د ثریا پرلیکا سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږي میاشت؛ د ښوونې او روزنې د پوهنځي له پروفیسورانو سره مرکه د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د هرات د پوهنتون د حقوقو او ساسي علومو د پوهنځي د یوې ښځینه زده کوونکې سره مرکه د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د کابل د پولتخنیک په پوهنتون کې د یو هزاره زده کوونکې سره مرکه د ۱۳۸۸ کال د تلز میاشت.

[۲۳] د کابل د پولیتخنیک په پوهنتون کې د یو هزاره زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۲۴] د کابل په پوهنتون کې د یو تاجیکې زده کونکې سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږی میاشت.

# ۳. د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: ملاتړ اود پرمختګ مفهوم

د ۱۳۸۰ کال راهيسې، داسې ښکاري چې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه د زده کوونکو او سياسي ډلو تر مينځ د خپرو اړيکو پر بنسټ ولاړ دي؛ تر دې کچې چې زده کوونکې (د سمدستي ګټو د تر لاسه کولو پر خلاف) په ګوندونوکې غړيتوب سره ليوالتيا ښکاره وايي چې دغه شان ګټې يې د خپلې راتلونکې پرمختيا لپاره غوره کړې دي. په اصل کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه په درې اساسي بڼو ښکاره شوي: ګوندونه، ټولنې او د زده کوونکو شورا ګانې.

## ګوندونه

د زده کوونکو په مينځ کې د سياسي ګوندونو څخه هرکلې په پراخه توګه د ګوندونو د قومي شاليد پر بنسټ ولاړ دی. په حقيقت کې لږ شمير سياسي ګوندونه کولای شي په کره توګه د ګڼ قوميز غړيتوب ادعا وکړي، که څه هم دا شی د افغان ګوندونو لپار ډير نادرهم دی چې په ښکاره ډول د يو قومي پلويانو له درلودولو ادعا وکړي. د هزاره سياسي ګوندونه ديوې استثنا په توګه په ښکارند ډول يواځې خپل ځان په يوه قوم يعنې هزاره او شيعه غړو پورې اړوند ګڼي ( چې به يوه ځانګړې ګوند پورې اړوند دی ). د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته د طالبانو ضد شيعه ډلو لپاره ليوالتيا د هزاره ګانو تر مينځ په چټکه توګه له مينځه ولاړه؛ پخواني مشران وايي چې ددوی پخوانۍ تيروتنو او ناوړه چال چلند د ښکنديدو له کبله تر نيوکو لاندې دي. ”جهادي ګوندونه“[25] د تعليم يافته وو ځوانانو د جلب او جذب لپاره ليواله ښکاري؛کله چې دوی وليدل چې د ځوانانو ليوالتيا مخ په کميدو ده نو دوی د هڅوونکو د ويشلو په ځانګړې توګه د وړيا ميلمستونونو او د فعالينو لپاره ديوې لږې اندازې معاش (د مياشتې ۵۰۰۰ افغانۍ) د په پام کې نيولو له لارې يې د زده کوونکو د جلب او جذب کار پيل کړ چې دوی کله نا کله د خپل سازمان د خپرونو د پلورلو له لارې خپل د ژوندانه لګښتونه برابروي. په يوه سياسي ګوند کې د شامليدو لپاره دهزاره زده کوونکو تر مينځ ډيره ليوالتيا موجوده وه، دا روښانه ده چې سياسي ملاتړ د هڅوونکو په نه شتون کې چې ددې د پياوړتيا لپاره اړينه ده نه ختميږي( کوم چې د نورو لاملونو ونډه هم له پامه نه غورځوي). يواځې ستر او د مالي پلوه بسيا سازمانونه، لکه د حزب وحدت مهم اړخونه (د خليلي او محقق) او د حرکت اسلامي دوه مهم اړخونه (لکه د انوري او د کاظمي ډلې) د خپلو پلويانو د مالي ملاتړ لپاره بسيا سرچينې په واک کې لري؛ هغه ګوندونه چې د ملاتړ د دا شان سرچينو پرته کار کوي په پوهنتون کې کابو هيڅ حضور نه لري.[26]

د هزاره ګانو تر مينځ ددې شرايطو برخلاف، داسې ښکاري چې د ازبکو زده کوونکو تر مينځ د نفوذ لپاره خورا لږ سيالي شتون لري. داسې نورې ازبکې ډلې نه شته چې د ملي اسلا مي جنبش چې بنسټ ايښودونکی يې دوستم[27] دی د نفوذ په وړاندې ستونزې رامينځ ته کړي. د افغانستان د ځوانانو جنبش په ښکنده د دوستم له خوا مالي ملاتړ تر لاسه کوي او د جنبش ملي سره خپل تړاو تاييدوي او ځان يو کلتوري او ټولنيز سازمان بولي. په کابل کې د ازبکو زده کوونکو د لږې شميرې له کبله ددې د غړيتوب کچه منځنۍ ده( دا ډله ادعا کوي چې په کابل پوهنتون کې ۱۰۰ کسه غړې لري)، خو په مزار شريف کې خورا پياوړې ډله ده او په هرات کې هم حضور لري. دا په کابل کې د يشلر جوانان (د زده کوونکو ژوند) ترسرليک لاندې يوه مياشتنۍ خپرونه هم خپروي، چې ويل کيږي موخه يې د ازبکانو د کلتوروده ده. نوموړی سازمان د هغو کسانو لپاره چې د بڼو اقتصادی شرايطو درلودونکې نه دي استوګنځي او کتابونه برابروي د افغانستان په بيلا بيلو ښارونو کې پنځه ميلمستونونه لري چې دوه يې په کابل کې دي. همدا راز دا د خپلو هغو غړو لپاره چې د منځني اقتصاد درلودونکې دي مالي ملاتړ(په مياشت کې ۳۵۰۰افغانۍ) هم وړاندې کوي او همدا راز د هيواد څخه بهراکثراً په ترکيه کې د تحصيلي بورسونو د ويشلو لپاره هم هڅه کوي (ويل کيږي چې کابو ۱۰۰ بورسه هر کال برابريږي). همدا راز دا د ځوانانو لپاره د کمپيوټر، انګريزي او سا ينسي مضمونونو د زده کړې کورسونه هم په لاره اچوي.[28] د افغا نستان د ځوانانو جنبش له ټول هيواده د بدخشان په ګډون د ازبکانو د را جذبولو په برخه کې کار کوي. د کابل په پوهنتون کې کابو ټول ازبک زده کوونکې هغه کوچنۍ شميرې ته په پام سره چې په کابل کې ميشت دي له ولايتونو څخه دي. داسې ښکاري چې ددوی په مينځ کې د افغانستان د ځوانانو د جنبش غړيتوب لوړ دی په خاصه توګه د فارياب څخه د راغلو زده کوونکو په مينځ کې چې تر ټولو ستره ډله ده. په ۱۳۸۸ کال کې د کابل په پوهنتون کې له فارياب څخه د ۴۰ راجستر شوو زده کوونکو له ډلې نه ۱۵ يې د دې ګوند غړيتوب درلود.[29] که څه هم چې په اصولو کې د ټولو قومي ډلو څخه غړيتوب مني، خو ټول غړې کوم چې مونږ وپيژندل ازبکان وو او ددوی بحثونه د ازبکانو پر حقونو او کلتور راڅرخيدل.[30] لکه چې يوه غړې په ښکنده يې دا وويل چې ”د ازبکانو سره مرسته ددوی له لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي“.

[25] په دغه رپوټ کې د جهادي ګوندونو څخه مقصد هغه ګوندونه دي چې د ۱۳۷۱-۱۳۸۰ کلونو پورې په کورنۍ جګړې کې ښکيل وو

[26] د دې ګوندونو په هکله د بحث او ددوی د توپير لپاره چيپي ډلې- او په مرکز کې بی له کوم قانوني ارزښته د روټيګ ليکنه، او د افغانستان د هزاره ګانو تر مينځ د سياسي پانګې هدر کول د نعمت الله ابراهيمي ليکنه وګورئ: د ۱۳۸۰- ۱۳۸۸( لندن: د کړکيچنو ايالتونو د څيړنې مرکز، ۱۳۸۸).

[27] چيپي ډلې- او په مرکز کې بی له کوم قانوني ارزښته د روټيګ ليکنه، د ختو امپراتوري ( نيويارک: د کولمبيا د پوهنتون خپرونه، ۱۳۸۸)

[28] د کابل په پوهنتون کې د يوه ازبک زده کوونکې سره مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د وږی مياشت؛ د مزار شريف د مولانا په خصوصي پوهنتون کې د فارياب له ولايت څخه د راغلې يو تن ازبک زده کوونکې سره مرکه ( د حقوقو پوهنځی) د ۱۳۸۸ کال د وږی مياشت.

[29] د بلخ د پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې د فارياب څخه د راغلې يوه تن ازبک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸کال د وږی مياشت

[30] د مزارشريف د مولانا د خصوٌصي پوهنتون د سياسي علومو په پوهنځي کې د فارياب څخه د راغلې بوه تن ازبک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږی مياشت.

تاجیک زده کوونکي د هزاره ګانو د ټوټه ټوټه کیدو او د ازبکانو د یوالي په مینځ کې دي. زیاتره تاجیک زده کوونکي د هغو سیمو په ګډون چې هلته تاجیکان یوه کوچنۍ لږککی جوړوي د جمعیت اسلامي او د هغه د ځوانانو او زده کوونکو په سازمان پورې تړلي دي،[۳۱]. جمعیت ادعا کوي چې په مزارشریف کې ۱۰۰ تنه زده کوونکي په خپلو لیکو کې لري او دهیواد په شمال کې ۱۰۰۰ تنه غړي لري او همدا راز د هرات په پوهنتون کې ۵۰ غړي او دکابل په پوهنتونونو کې ۳۰۰ غړي لري.[۳۲] داسې ښکاري چې د ځوانانو او زده کوونکو سازمانونه د زده کوونکو په راجذبولو کې په ښه توګه کار کوي او ادعا کوي چې یوازې په هرات کې ۲۱۰۰ تنه غړي لري، که څه هم چې ددې یوازې یوه برخه یې د پوهنتون څخه ده. پر خپلوځوانو وزرونو تمرکز د جمعیت یوه سنجول شوې ستراتیژي ده، دوی په دې باور دي چې زده کوونکي له دې کبله چې نه غواړي د خپل هیواد د ډیرو کړاوونو مسوول وګڼل شي د سیاسي ډلو غړیتوب ته لیواله نه دي.[۳۳]

جمعیت هم خپلو فعالینو ته استوګنځي برابروي او د دوی په مینځ کې تر ټولو بیوزلو ته معاش ورکوي چې دا کار ځیني وختونه د خپلو دوره ای خپرونو د خرڅلاو له لارې تر سره کیږي. د جمعیت د فعالینو مهمه دنده د ټاکنو پر مهال د د کمپاینونو تر سره کول او هره اونۍ او یا هره دوه اونۍ پر روانو حالاتو د خبرو اترو په موخه او دا چې څرنګه د ګوند کارونو ته سمون ورکړي، غو نډې تر سره کوي. هره میاشت یا په هرو دوو میاشتو کې له ټول هیواده فعالین په ملي غونډو کې برخه اخلي. دغه ګوند خپل فعالین هڅوي څو په ځایي او ملي ټاکنو کې د نوماند په توګه سیالي وکړي، دا د جذبولو لپاره یوه عملي او مثبته پالیسي لري او غړي هڅوي څو نوی جلب وجذب وکړي. جمعیت له خپلو غړو څخه حق العضویت نه اخلي.[۳۴]

د خپلو مرکو له لارې دغه قضاوت کولای شو چې د پښتنو زده کوونکو تر مینځ هم د هزاره ګانو په څیر سیاسي لرلید پاشل شوی دی د ننګرهار ولایت څخه پرته په سیاسي فعالیتونو کې د ګډون کچه خورا ټیټه ده. چې داښایي په دیني فعالیتونو کې د ښکیلتیا د لوړې کچې له کبله وي او حقیقت دا دی چې پښتانه زده کوونکي پټو سیاسي خوځښتونو ته را جذب شوې دي (په ۸ مخ کې د زده کوونکو شورا ګانې، او په ۱۲ مخ کې د بغاوت څپې وګورئ). د افغان ملت د ګوند د هغو ټولو ګوندونو ترمینځ چې په قانوني توګه ثبت شوي دي او د پښتنو زده کوونکو په مینځ کې فعال دی تر ټولو فعال سازمان دی.[۳۵] ددې ګوند حضور په جلال آباد کې خورا پیا وړی دی آن که چیرې د اسلامي ګوند د یوه قانوني اړخ حضور دغه موضوع مغشوشوي؛ دهغو خواخوږیو له مخې چې د زده کوونکو له لورې څرګند شوي دي داسې ښکاري چې د دواړو اړخونو تر مینځ یوه اندازه تداخل لیدل کیږي. په کابل ، هرات او مزار شریف کې د افغان ملت ګوند په خپلو هغه کم شمیر فعالینو اتکا کوي کوم چې کولای شي دهغو د قومي موضوعاتو په هکله د ډیرو سنتي او مذهبي پښتنو زده کوونکو سره راغونډیدل سمبال کړي. د بېلګې په توګه دوی ادعا کوي چې د هرات په پوهنتون کې ۱۵ غړي لري. د افغان ملت ګوند هم د نورو ډیرو ګوندونو په څیر خپلو غړو ته استوګنځي برابروي او همدا راز یو لږنورې ژمنې لکه په ښو پوهنتونونو کې د دوی د داخلید په لاره کې مرستې او داسې نور.[۳۶] یوه بله غیر مذهبي ډله د حاجی عبدالظاهر قدیر د سولې کاروان دی، چې د یوشمیر زده کوونکو په وینا د ننګرهار په پوهنتون کې خورا فعال سازمان دی. د ځینو په وینا دا ښایي په پوهنتون کې د غیر مذهبي (یا لږ تر لږه نه په څرګنده توګه مذهبي) ګوندونو له ډلې نه تر ټولو فعاله ډله وي آن تر دې چې د افغان ملت ګوند ته یې هم ماته ورکړې، خو داسې ښکاري چې ددې ګوند جلب او جذب تر ډیره حده د ملاتړ له مخې وي نه د ایډیالوژۍ او یا د سیاسي دریځ له مخې.[۳۷]

د هغو ډلو پرته چې په پټه فعالیت کوي او په راتلونکې برخه کې به پرې بحث وشي، د اسلامي ګوند قانوني څانګه د هغو اسلام پالو ډلو له ډلې نه ده چې د پښتنو په مینځ کې خورا فعاله ده، داسې ښکاري چې که څه هم چې د فعالو زده کوونکو شمیر یې نسبتاً لږ دی او ملاتړ یې پر جلال اباد متمرکز دی. ددې ډول ملاتړ پراخوالی‌کیدای شي د اسلامي ګوند د غیر قانوني څانګې سره د غړیتوب په تور له پوهنتون څخه د لسو تنو زده کوونکو د شړنې سره د زده کوونکو د غبرګون؛ د جومات چارچاپیر لاریون او د یو ستر شمیر زده کوونکو له خوا په آزموینه کې د نه ګډون او د دوی د بیا داخلیدو په موخه د پوهنتون په علمي چارواکو د زور اچولو له مخې وټاکل شي.[۳۸]

زمونږ د څیړنې پر مهال لږ شمیر چپي سازمانونه د پښتنو په مینځ کې د مذهبي تبلیغ له کبله پیژندل شوې وو. پرته له هغو ډلو نه چې د هرسکټور خلک جذبوي، یوه ډله چې ښکاري پښتنو ته امتیاز

[۳۱] مونږ د نورو ډلو د زده کوونکو په مینځ کې داسې نښې نښانې ونه لیدلې چې د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته د جمعیت څخه بیل شوی وي، د شورای نظار څخه د رامینځ ته شوو افغا نستان نوین او نهضت ملي په ګډون.

[۳۲] د مزار شریف د مولانا د خصوصي پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د ارزګان څخه د راغلې یوه تن تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږي میاشت؛ د هرات په پوهنتون کې د هرات څخه د یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۳۳] د کابل د پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې د پنجشیر څخه د راغلې یوه تن تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۳۴] د بلخ په پوهنتون کې له مزار شریف څخه راغلې د یوه تن تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت، د دهدادی څخه دیوه تاکیک زده کوونکې سره مرکه، په مزار شریف کې د جمعیت د ګوند دفتر، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت.

[۳۵] ددې ګوند په هکله د روتینګ Islamist, Leftist-and a Void in the Centre.

[۳۶] دملګرو ملتونو سرچینه، کابل ۱۳۸۸ کال، د آزادګان د فعالینو سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت، د هرات له ښار څخه د یو تاجیک زده کوونکې سره مرکه، په مزار شریف کې د جمعیت د ګوند دفتر د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۳۷] دننګرهار په پوهنتون کې د حقوقو د پوهنځي له یوه تن پښتون زده کوونکې سره چې د جلال آباد اوسیدوونکې دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار په پوهنتون کې د ښوونې او روزنې د پوهنځي له کندهار څخه راغلې یوه تن پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشت؛ د ننګرهار په پوهنتون کې د حقوقو د پوهنځي له لغمان څخه راغلې یوه تن پښتون زده کوونکې سره مرکه؛ ددننګرهار په پوهنتون کې له کاپیسا څخه راغلې د شرعیاتود پوهنځي له یوه تن پښتون زده کوونکې سره مرکه. دغه ګوند به ۱۳۸۸ کال کې د ننګرهار ولایتي شورا ته یې د ۱۹ غړو له جملې نه یې ۹ غړې ټاکلې دي

[۳۸] د ننګرهار په پوهنتون کې د بغلان څخه راغلې د کرهنې د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشت؛ د ننګرهار په پوهنتون کې له لغمان څخه راغلې د شرعیاتو د پوهنحي له یوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت.

ورکوي د شهنواز تني د سولې د غورځنګ ډله ده چې د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې په هرات کې په بشپړه توګه فعاله وه.[39] که څه هم کله چې د تني ډلې خپل کمپاین یې پیل کړ خلک د هرات په جامع جومات کې د هغه په وړاندې د اعتراض په توګه راغونډ شول اود یو اعتراض لیک په ترڅ کې چې په کې د ډیرو خلکو امضا ګانې وې د ده د نیول کیدو غوښتنه یې وکړه.[40]

که څه هم چې د "جهادي ډلو" تر مینځ د یو توکمیز ترکیب پرلور لیوالتیا پراخه ده خو لاتر اوسه هم تر یوه حده یوځای والی شته. په هرات کې د جمعیت د ډلې په لیکو کې ځینې پښتانه لیدل کیږي،[41] په داسې حال کې چې ځینې تاجیک زده کوونکې د اسلامي ګوند او افغان ملت په لیکو کې لیدل کیدل؛[42] آن یوله هغو کسانو څخه چې په دې وروستیو کې د خپلې کورنۍ د مخالفتونو سر بیره یې د ددې ګوند غړیتوب تر لاسه کړ."غیر جهادي ګوندونه"[43] هڅه کوي څو د ګډو قومونو غړې په خپلو لیکو کې ولري، که څه هم چې ددې توپیر په هکله باید مبالغه ونه شي. یوه "غیر جهادي ډله" چې په خپلو لیکو کې په خاصه توګه تاجیک غړې لري د ګنګره ملي ګوند دی. دغې ډلې په ځانګړې ډول د افغانستان له شمال ختیځو سیمو څخه زده کوونکې راجذبوي او همدا راز ډیر لږ ملاتړې په هرات او کابل کې لري. دغه ګوند زده کوونکو ته ددوی د غړیتوب د په پام کې نیولو پرته روزنیز کورسونه په لاره اچوي او په دې ډول له دغو کورسونو څخه د خپل د دریځ د څرګندولو او خپلو لیکو ته د زده کوونکو د رابللو د وسیلې په توګه کار اخلي. ددې ګوند ډیرۍ غړې د حقوقو او د فلسفې د پوهنځیو زده کوونکې دي. نوموړی ګوند هم خپلو بیوزلو غړو ته چې له لږ تر لږه دوه کاله ددې ګوند غړیتوب ولري د اوسیدو ځای برابروي. دلږ شمیر سره سره داسې ښکاري چې ښایي دغه ډله د خپل مشر لطیف پدرام د جاذبې له کبله د یو پراخ شمیر زده کوونکو خواخوږي له ځانه سره ولري[44] په بدخشان او تخار کې د آزادګان ګوند په ورته سیمو کې فعا ل دی .[45] د آزادګانو ګوند اوس د کابل په پوهنتون کې د لږو فعالینو اوله ۲۰۰-۱۰۰خواخوږو په درلودلو سره فعال دی؛ په عمل کې دا د قومي موضوعاتو په هکله بحثونو په مرکز کې د قومي سمبالتیا د خوځونکې په څیر فعالیت کوي. په دې توګه دا د افغان ملت یوتاجیک سیال دی.[46]

دا څرګنده ده چې له قومي پلوه ګډو "غیر جهادي ګوندونو" ته ستونزمن کار دی چې پوهنتون ته لاره ومومي د ا کیدای شي تر یوه حده ددوی د مالي سرچینو د نشتوالي له کبله واوسي. د بیلګې په توګه د علومي د (حزب متحد ملي) ګوند سره له دې چې د خلکو د ډموکراټیک ګوند له چپي ځای ناستو څخه دی او په ښه توګه سازمان ورکړل شوی هم دی خو په دې نه دی توانیدلی چې له انفرادي اړیکو څخه وړاندې ولاړ شي.[47] د آزادی غوښتونکو (حزب ازدایخواهان) د ګوند د فعالیت نښې نښانې په پوهنتون کې څرګندې دي. په زړه پورې ده چې دغه ګوند هم د خپلو غړو لپاره د اوسیدو لپاره ځای برابروي (که څه هم چې ددې مرستو کچه د مهمو ګوندونو په پرتله لږ ه ده)، خو دا د خپلو فعالینو لپاره معاش نه برابروي مګر د روزنیزو کورسونو د جوړولو له لارې چې بسپنه یې په خپله غاړه اخلي ځوانان خپلو لیکو ته را جذبوي.[48]

په لنډ ډول، هغه څه چې د ټولو قومي ډلو تر مینځ ګډ دي د زده کوونکو په ټاکلو کې خپاره مصلحتونه دي. د پخوانیو ځینو غړو د زامنو له جذبه پرته، جهادي ګوندونه د بیوزلو او منځنیو کورنیو څخه چې له دې ډلو سره مخکینۍ اړیکې نه لري، خو هغه کسان چې د موټرو او ټولنیز پرمختګ یا اکثراً په آسانه توګه د لوړو زده کړو دلګښت د برابرولو په لټه کې دي را جذبوي ، ډیری هغه کسان چې په ګوندونو کې غړیتوب تر لاسه کوي له یوه کمزورې اقتصادي شالید درلودونکې دي، چې د اقتصادي ملاتړ برابرول دوی ته یو ستر عامل په توګه ښکاري.[49] ځینې غړې په څرګنده دا وایي چې دوی د ګوند نظریې له چا سره نه شریکوي او ډیر ژر به د خپلو زده کړو له بشپړیدو سره به ددې غړیتوب پریږدي.[50] تر ټولو وتلې فعالین اکثراً د یوه منځني ټولنیز شالید درلودونکې لیواله نارینه ځوانان دي چې د سیاسي مشغولاوو په تمه دي (هغه ګډ دلیل دی چې ددې په ځواب کې چې ولې د منځنیو کورنیو غړې د جمعیت په شان ګوندونو لیکو سره یوځای کیږي).[51] د یوه کس په وینا:

*ما په پارلماني ټاکنو کې ولیدل چې د تخار له ولایت څخه ټولو هغو*

[39] د هرات په پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له لغمان څخه راغلې یوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[40] د ملي ډموکراټیک انستیتیوت د یوه تن چارواکې سره مرکه، هرات د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[41] د هرات د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د یوه پښتون زده کوونکې سره چې د هرات اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت

[42] د هرات په پوهنتون کې د اوبې څخه د راغلې یوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[43] په دې رپوټ کې، "غیر جهادي ډلې" هغه ډلې دي چې د وسله والو ډلو سره کوم تړاو نه لري.

[44] د هرات په پوهنتون کې د بدخشان څخه راغلې یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د کنګره ملي په دفتر کې د کابل ولایت څخه د یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکهو کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت، د کابل د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې د کندز څخه راغلې یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د غزني ولایت د خواجه عمري له ولسوالۍ څخه د راغلې یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، کابل د کنګره ملي دفتر، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ په مزار شریف کې د یوې لیلې له زده کوونکو سره خبرې اترې، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[45] د بدخشان ولایت په ۱۹۶۰( ۱۳۳۹) د خلکو له ډموکراټیک ګوند څخه بیل شو، داسې استدلال یې کولو چې قومي مخالفتونه بر طبقاتي مخالفتونو لومړیتوب لري.

[46] د یوه پخواني فعال سره مرکه چې اوس د کابل په پوهنتون کې پروفیسور دی، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د آزادګان د ګوند له یوه تن فعال سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[47] د حزب متحد ملي د ځوانانو د برخې له مشر سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کالد وږې میاشت.

[48] له یوه هزاره زده کوونکې سره مرکه ، د آزادۍ‌ښتونکو د ګوند دفتر، هرات، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د کابل په پوهنتون کې دیوې تاجیکې زده کوونکې سره چې دکابل اوسیدونکې ده مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د هرات په پوهنتون کې د غوریانو څخه راغلی له یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[49] د پلخ په پوهنتون کې د یوه تاجیک زده کوونکې سره چې د بلخ اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت.

[50] د مزار شریف د مولانا د خصوصي پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي له یوه زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال وږې میاشت.

[51] د بلخ په پوهنتون کې د مزار شریف څخه راغلې یوه تاجیک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کا ل د وږې میاشت.

*نوماندو چې زياتې رايې يې تر لاسه کړې وې د سياسي ډلو غړې وو. ځايي نوماندو او يا هغه کسانو چې په چا پورې تړلې نه وو ډيرې لږې رايې يې ګټلې وې. په دې وخت کې ما له ځانه سره دا پريکړه وکړه چې په يوه سياسي ګوند پورې تړاو د سياستمتدار او يا د پارلمان د غړې کيدو لاره ده.*[۵۲]

له دې کبله جمعيت هم په دې وتوانيدو چې له هغو کورنۍ څخه چې پياوړۍ غير مذهبي شاليد لري غړې ځانته را وکاږي؛ يوه زده کوونکې ځرګنده کړه چې پلار يې په ۱۹۷۰لسيزه (۱۳۴۹) کې د يوه سوسيال ډموکراټيک ګوند غړی ؤ.[۵۳] د "جهادي ډلو" يو کم شمير فعالينو د يوه ځانګړې ګوندسره د يوځای کيدو لپاره يې د ايډيالوژيکي دلايلو يادونه وکړه؛ دهغې پر ځای يې د خپل کورني شاليد او "په ټولنه کې يو پيژندل شوې وګړې په توګه" معرفي کيدلو څخه يې يادونه وکړه.[۵۴] هغه فعالين چې په دغو ګوندونو کې د خپلو پلرونو يا ترونو پر پل ځي هڅه کوي چې تر ډيره حده هغه رسمي ځرګندونې چې د مشرتابه له لورې خپرې شوې دي تکرار کړي او د خپل شخصي نظر ځرګندولو ته ليواله نه دي ، آن د خپلو سيالو ډلو په هکله هم. ځينې يې ددې سره سره چې په سازمان، جهاد او د کورنيو جګړو پر مهال د خپلو پلرونو د ونډې د ځرګندولو په اړه ډير ليواله دي خو له خپلو ګوندونو سره دومره ژور تړاو نه ځرګندوي.[۵۵]

که چيرې سترې او شتمنې ډلې د ټولنې د بيوزلو طبقو ډيرې زده کوونکې ځانته را واړوي، داسې ښکاري چې آن په کوچنيو او د کمو سرچينو درلودونکو سازمانونو په ليکو کې ځانګړې فعالين به هم د شخصي هيلو پر بنسټ راجذبيږي؛ دغه خبره په بشپړه توګه عامه وه چې دوی ملي او ولايتي ټاکنې يې د با نفوذه کيدو لپاره يوه لاره ګڼله خو دغه خبره هيڅ کله د سياسي اصولو له مخې نه کيده.[۵۶] په دې برخه کې ددې خبرې يادونه به مهمه وي چې په داسې حال کې چې غير جهادي ګوندونه دغير مذهبي روڼ اندو ملاتړ له ځانه سره لري کولای شي چې د يوې مودې لپاره د زده کوونکو پام ځانته را واړوي، اکثراً تمه دا وه چې نوې سياسي لوبغاړې به په چټکه توګه رامينځ ته شي او په دې به وتوانيږي چې خپلو ملاتړوسره هم مالي مرستې وکړي. له هغه ځايه چې دا کار تر سره نه شو نو د نوو ډلو په هکله ليوالتيا هم په چټکه توګه راکمه شوه، چې دغه مسأله د افغانستان د مدني نهضت (نهضت مدني افغانستان) په برخه کې هم ليدل کيږي. اکرم ګيزابي د افغانستان د مدني نهضت مشر له پراخوخوړۍ څخه برخمن د ی خو د يوه سازمان او مالي مرستو د نشتوالي له کبله هغه نه شي کولای چې خپل ملاتړې سره يوځای کړي.[۵۷]په همدې توګه ځينې نورې مشهورې څيرې لکه احمد بهزاد په پارلمان کې د هرات د خلکو استازی د سرچينو د نشتوالې له کبله په دې ونه توانيدو چې د زده کوونکو په مينځ کې پر خپل شهرت پانګونه وکړي.[۵۸] د لږ شان توپير سره رمضان بشر دوست د يوه سياسي مشر په توګه د خورا شهرت خاوند دی خو لاتر اوسه يې دې ته د بنه ورکولو هڅه يې نه ده کړې او نه کوم ګوند لري.

## ټولنې

د پخوانيو مشرانو ليوالتيا د خپلو هغه زده کوونکو ملاتړو د له پامه غورځولو لپاره چې د دوی په هاند ددوی کنټرول به ستونزمن وي د هغو زده کوونکو په مينځ کې چې سياسي شوې دي د پام وړ شکايتونه يې رامينځ ته کړې دي، هغوی وايي چې مشران" د خپلو شخصي ګټو په موخه ځوانان جذبوي او هغوی استثماروي......خو کله چې دوی د ځان لپاره ګواښ وګڼي نو هغوی له کاره غورځوي.[۵۹] د زده کوونکو د ګټو او غوښتنو د ځرګندولو په برخه کې د سياسي ګوندونو د وړتيا نه شتون او همدا راز د سياسي ګوندونو د سياسي ليواليتا نه شتون او د هغوی منحلول او دسياسي ګوندونو بندول ټول د زده کوونکو د پټو ټولنو د را مينځ ته کيدو لامل شول چې اکثراً د يوې ځانګړې ولسوالۍ يا ولايت د زده کوونکو د استازيتوب ادعا کوي.[۶۰] ځينو دغو ټولنو په يو شمير سيمو کې يې خپل دفترونه پرانيستې دي لکه د کابل او هرات په پوهنتونو کې او همدا راز د زده کوونکو په اصلي سيمو کې. ځينې ټولنې د زده کوونکوله غوښتنو سره سم فعاليت کوي ، خو د زده کوونکو د يوې کوچنۍ شميرې د استازيتوب د کولو له محدوديتونو سره لکه د زده کوونکو شورا او يا ټولنه.[۶۱] اکثراً دغه ټولنې خپلې دوره ای خپرونې له ټاکلو کلتوري موخو سره لري، که څه هم چې په دې خپرونو کې سياسي مطالب هم ځای لري. ډيرې دغه ټولنې يو توکميزې دي او يا هڅه کوي چې په همدې لورې ولاړې شي. يوه پښتون زده کوونکې ادعا وکړه چې هغه له يوې ټولنې سره يې خپلې اړيکې شلولې ځکه چې هغوی د پښتونيزم پر لور روان وو.[۶۲] داسې ښکاري چې ځينې دغه ټولنې د خپلو بنسټ اېښودونکو د سياسي هيلو د پوره کيدو يوه وسيله ګڼل کيږي، په راتلونکو ټاکنو کې د برخه اخيستنې په هکله ددې ټولنو

[۵۲] د کابل په پوهنتون کې د يو تاجيک زده کوونکې سره چې د کابل اوسيدونکۍ دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت.

[۵۳] د هرات په پوهنتون کې د کابل له ده سبزو څخه راغلې يوه تن تاجيک زده کوونکې سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[۵۴] د هرات په پوهنتون کې د يوه تاجيک زده کوونکې سره چې د هرات د ښار اوسيدونکۍ دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[۵۵] د مزار شريف د مولانا په خصوصي پوهنتون کې د يوه زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت.

[۵۶] د هرات په پوهنتون کې د غوريا نو څخه راغلې د يوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تل

[۵۷] د کابل په پوليتخنيک پوهنتونکې د يوه هزاره زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[۵۸] د کابل د پوليتخنيک پوهنتون له يوه هزاره زده کوونکې سره مرکه ، د ۱۳۸۸ کال وږې مياشت؛ د کابل په پوهنتون کې د يوه هزاره زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لړم مياشت

[۵۹] د د افغانستان د ځوانانو د ملي تفاهم د ټولنې ( مجمې تفاهم ملي جوانان افغانستان )د مشر نجيب الله پژمان سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د لړم مياشت.

[۶۰] د بيلګې په توګه د غزني د زده کوونکو ټولنه په ځانګړې ډول د مالستان د ولسوالۍ څخه د راغلو زده کوونکو څخه جوړه وه( د کابل د پوليتخنيک د انستيتيوت د يوه هزاره زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت).

[۶۱] د هرات د پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي له يوې زده کوونکې سره چې د هرا ت اوسيدونکې ده مرکه ، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[۶۲] د هرات د پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي د لغمان نه راغلې يوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

د مشرانو بار بار څرګندوني ددې ادعا لپاره يو ښه ثبوت دی. [63] په مزار شريف کې د اتحاد د کلتوري ټولنې يوه بنسټ ايښودونکې خپل ښکيلتيا په دې توګه توجيه کوي:

*مونږ غواړو چې ددې ټولنې (اتحاديې) له لارې ځان مشهوره کړو او زه په خاصه توګه د ټولنې (اجتماع) سره ډېرو شبکو د را مينځ ته کولو غوښتونکې يم او په دې توګه په راتلونکې کې د سياست پر لور دانګم. زه فکر کوم چې کلتوري ټولنې د سياسي ګوندونو په پرتله په ټولنه کې د زيات اعتبار خاوندان دي ځکه چې موږ د ټولنې په مينځ کې يو او دوی مونږ پيژني*[64].

په ځينو حالاتو کې پر ټولنو د سياسي وسيلې په توګه اتکأ ښايي د هغه حقيقت له کبله وي چې نورې لارې پرانيستې نه دي؛ د بېلګې په توګه، دا سې ښکاري چې د چپي ګوندونو لکه د خلکو د ډموکراتيک ګوند د پخوانيو غړو زامن غواړي چې د "غير جهادي ګوندونو" پرځای چې د خلکو د ډموکراتيک ګوند څخه بيل شوي دي دغير ګوندي ټولنو غړيتوب تر لاسه کړي.[65]

ځيني کوچنې او خپلواکې ټولنې اړې دي چې د خپل مالي سرچينې په توګه موجودو سياسي ګوندونو ته مراجعه وکړي. د بېلګې په توګه دا کارد افغانستان د زده کوونکو د ټولنې (انجمن دانشجويان افغان) په برخه کې چې په ۱۳۸۱ کال کې د نجيب الله پژمان له خوا رامينځ ته شوی هم ليدل کيږي. ددې ټولنې مشر سيد منصور نادري ته چې د افغانستان د روڼ آندو د جبهې (جبهه روشنفکران افغانستان) د سياسي ګوند بنسټ ايښودونکی دی مراجعه يې وکړه. نادري د دې ټولنې سره يې په دې هيله مرسته وکړه چې دغه ټولنه دده په ګوند کې داخله شي. له نهو مياشتو وروسته دغه مرستې بندې شوې ځکه چې دا څرګنده شوه چې زده کوونکي غواړي چې خپل ناپېيلتوب وساتي. په پای کې يې زده کوونکې د خپل دفتر تړلو ته اړ شول.[66]

ځيني نورې ټولنې د "جهادي ډلو" څخه د دومدارو مرستو د تر لاسه کولو په کار کې بريالی وې خو مجبورې وې چې خپل ناپېيلتوب په خطر کې واچوي[67] په ۱۳۸۷ کال کې جمعيت اسلامي د افغانستان د مصلح ځوانانو د ټولنې (انجمن جوانان مصلح) په ملاتړ يې پيل وکړ چې دهرات په پوهنتون کې د ۳۵۰ غړو د درلودلو ادعا کوي او د پيسو د نه شتون له کبله يې جمعيت ته مراجعه کړې ده.[68] په همدې توګه د بغلان څخه د زده کوونکو يوې ټولنې چې د بغلان د خلکو د پارلماني استازو ترمينځ د يوه پله په توګه رول لوبوي ځوځپلې د ملاتړ ځايي شبکې را مينځ ته کړي، چې دا د زده کوونکو لپاره کتابونه، استوګنځي او روزنيز کورسونه برابروي. ځيني سوداګر هم له دې ټولنې سره چې دفترونه يې په کابل او بغلان کې دي، همدا راز پارلماني غړې هم له دوی سره مالي مرستې کوي.نومړې ټولنه سياسي ځانګه هم لري او د بغلان د ولايتي شورا لپاره يې دوه غړې (په نه بريالی توګه) معرفي کړې دي.[69] د زده کوونکو د ټولنو د سازمان ورکونکو بې تجربګې کله ددې لامل کيږي چې د ځينو بهرنيو ملاتړکونو له لارې مالي مرستې راجلب کړي خو په روښوالي سره ددې مالي مرستو په لګولو کې پاتې راتلل د يولړ مالي تورونو او بدناميو لامل ګرځيدلي دي. ځيني رښتيني ناپېيلې ټولنې د يو زيات فيس د ټاکلو له کبله کيد ای شي وپيژندل شي، د شيخ عبدالصمد نظري د ارشاد خطابي ټولنه په هرات کې چې يوه سياسي، کلتوري او علمي ټولنه ده د ۱۳۸۸ کال په لومړيو کې يې په کار پيل کړی او د عادی حالت څخه ډير زيات فيس ټاکي (د مياشتې ۵۰۰ افغانی).[70]

ښايي د زده کوونکو د ټولنو د سياسي کيدو تر ټولو څرګنده بيلګه د افغانستان د ټولنيزې پراختيا او سمون ټولنه (جمعيت اصلاح و انکشاف اجتماعي افغانستان) وي چې آن د ځينو له خوا په دې تورنه ده چې ګواکې د اسلامي ګوند استازی سازمان دی، چې د عاطف الرحمن له خوا (چې د تخار اوسيدونکی دی) په دې ورروستيو کې را مينځ ته شوې او د ښې بوديجې درلودونکې ده، د سمون ټولنه (جمعيت اصلاح) پرکلتوري فعاليتونو تمرکز کوي او همدا راز د ښوونکو د روزنيز انستيتيوت چې يوخصوصي راجستر شوی انستيتيوت دی لګښت يې پر غاړه لري. د سمون ټولنه (جمعيت اصلاح) د ننګرهار په پوهنتون کې پياوړی حضور لري، چې د ځينو استادانو له لورې يې هم ملاتړ کيږي، او همدا راز ښايي د کابل په پوهنتون کې تر ټولو ستره ټولنه وي. همدا راز ويل کيږي چې په خصوصي پوهنتونونو کې هم فعاله ده. ددې ټولنې ځينو غړو د ددې سازمان اسلام پاله ليوالتيا او همدا راز په افغانستان کې د يوه اسلامي حکومت را مينځ ته کيدو څخه ملاتړاو د هغه مخالف ماهيت هم تاييدوي. دغې ټولنې د خپل ښه سازمان ورکړل شوې او د وړيا بياکتنې د ټولګيو له لارې يې ګڼ شمير زده کوونکې راجذبوي. [71]

[63] د کابل څخه د يوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، د کتوري ټولنې دفتر، هرات، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت.

[64] له کابل څخه د يوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، مزار شريف د اتحاد کلتوري مرکز، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت.

[65] د فراه څخه راغلې يوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، د شيخ عبدالصمد نظري د ټولنې دفتر، هرات، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[66] د افغانستان د ځوانانو د ملي تفاهم د ټولنې د مشر نجيب الله پژمان سره مرکه، کابل، د ۱۳۸۸ کال د لړم مياشت.

[67] د کابل د پوليتخنيک په پوهنتون کې د يوه هزاره زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[68] د هرات د بوهنتون د شرعياتو د پوهنځي له يوه پښتون زده کوونکې سره چې د هرات اوسيدونکې دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[69] د کابل په پوهنتون کې د بغلان څخه رغلې يوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت.

[70] له فراه څخه ديوه تاجيک زده کوونکې سره مرکه، د شيخ عبدالصمد د ټولنې دفتر، هرات د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت.

[71] د حفيظ منصور سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې د مياشتې ۶ مه نيټه؛ د ملګرو ملتونو سرچينه، کابل ۱۳۸۸ کال، د ننګرهار د پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي له لغمان څخه راغلې يوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د وږې مياشت؛ د ننګرهار د پوهنتون د طب په پوهنځي کې له يوه پښتون زده کوونکې سره چې د ننګرهار اوسيدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د ليندۍ مياشت؛ د ننګرهار د پوهنتون د انجينيرۍ په پوهنځي کې له لغمان څخه راغلې يوه پښتون زده کوونکې سره مرکه د ۱۳۸۸ کال د ليندۍ مياشت؛ د ننګرهار د ساينس په پوهنځي کې له لوګر څخه راغلې يوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د ليندۍ مياشت؛ د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي يوه تن زده کوونکې سره مرکه چې د کابل د تره خيلو اوسيدونکی دی، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت؛ د کاتب په خصرصي پوهنتون کې له ارزګان څخه راغلې يوه پښتون زده کوونکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت؛ د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي له يوه پښتون زده کوونکې سره چې د خوست اوسيدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې مياشت؛ د کابل پوهنتون د

### د زده کوونکو شوراګانې

لکه څرنګه چې په لومړۍ برخه کې څرګنده شوه په ۱۳۳۹ او ۱۳۴۹ کلونو کې د کابل په پوهنتون کې د زده کوونکو د ټولنې شورا د سیاسي فعالیتونو د تمرکز ټکر ؤ. د ۱۳۸۰ راهیسې په بېلابېلو دولتي پوهنتونو کې د زده کوونکو د شوراګانو د بیا جوړولو په هکله ډېرې خبرې کیږي، خو د ۲۰۱۰ کال په پیل (۱۳۸۸ کال وروستیوکې) یوازې د ننګرهار پوهنتون په یوې داسې ادارې چې د زده کوونکو له شورا سره ورته وه سمبال شوه. دا ښایي د هغه وخت نښه وي چې دا شان ادارې په کلکه مذهبي اصطلاحاتو له لارې ځانګړې کیدې، د مسجد شورا ټول زده کوونکي د غړو په توګه مني او یو مشر او دوه مرستیالان او له ۲۳ غړو څخه جوړه یوه شورا ده چې د یوې "بشپړې اسلامي او ډموکراتیکو ټاکنو" له لارې ټاکل شوې ده. که څه هم چې دغه شورا په کلتوري او مذهبي موضوعګانو کې د ښکیلتیا ادعا کوي او زده کوونکو ته اسلامي لوستونه ورکوي، خو کله کله په سیاسي مسایلو او د زده کوونکو څخه د ملاتړ په مسایلو کې هم لاس وهنه کوي. د رپوټونو له مخې په یوه پیښه کې دننګرهار د پوهنتون د یوه زده کوونکي د خوشې کیدو لپاره چې په پکتیا کې نیول شوی ؤ دې شورا هم فعالیت درلود. په جلال آباد کې د هغو زده کوونکو چې د اسلامي ګوند په غړیتوب تورن وو( وراندې یې یادونه شوې) د نیول کیدو پر ضد لاریونونه د همدې مسجد شورا له خوا تنظیم شوې وو، دننګرهار له والي سره د خبرو اترو او د ولسمشر کرزي له مینځګړیتوب څخه ددې شورا د ځواک کچه جوتیږي. د نومورې شورا ځواک او نفوذ آن د ۱۳۳۹ او ۱۳۴۹ کلونو د زده کوونکو له ټولنو څخه هم زیات دی ؛ وړاندې تر دې چې له کوم زده کوونکي سره مرکه وشي زمونږ مرکه کوونکي دې ته اړ وو چې باید ددې شورا له مشر تابه څخه اجازه تر لاسه کړي. [72]

حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د وردکو اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کا ل د تلې میاشت؛ دننګرهار پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د کنړ او سیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت.

[72] د ننګرهار پوهنتون د ژبو اوادبیاتو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د ننګرهار اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار د کرهنې د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د بغلان اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لغمان اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د حقوقو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې دلوګر اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت ؛ د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لغمان اسیدونکي دی مرکه د ۱۳۸۸کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د انجینیري د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د وردګو اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د حقوقو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره

## ۴. له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته: د بغاوت څپې

### ډلې

له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته په افغانستان کې د پوهنتون د زده کوونکو په مینځ کې بغاوت په دوو مهمو برخو ویشل کیږي. لومړی د سیاسي شوو ځوانانو د ډلو جوړېدل. ددې ډلو ماهیت روښانه نه دی په دې کې یو عنصر هغه نسلي بغاوت دی چې د پوهنتون د تعلیمي نظام په وړاندې شتون لري، دوی د مهمو سیاسي پوځي ډلو سره چې د ۱۳۸۰ کال د بُن په تړون کې یوځای شوې دي د اړیکو غو ښتونکي دي. دغو ډلو په څو پوهنتونو کې پر زده کوونکو کنټرول ساتلی او په لږ تر لږه یوه پیښه کې دوی د ریس د لیرې کولو له لارې یې خپل ځواک څرګند کړی دی (د کابل د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې). د پوهنتون له انګړ څخه بهر له مهمو سیاسي څېرو سره ددغو ډلو تړاو د پوهنتون د علمي چارواکو لپاره ددوی د غړو د کنټرولولو او مجازات کار خورا ستونزمنوي. دغه ډلې یوه ټاکلې زده کوونکي ته د ښوو نمرو د ورکولو لپاره د استادانو د ګواښونې له لارې یې د زده کوونکو په مینځ کې ملاتړ تر لاسه کړی دی. ځینې استادان د خپل سیاسي اړیکو له کبله له دې ډلو سره خواخوږي دي.[73] د کابل او مزار شریف په پوهنتونونو کې د دا ډول ډلو شتون تایید شوی چې په دې وروستو کې یې د جمعیت اسلامي سره پراخ تړاو درلود.

یو بل ډول بغاوت پټ سیاسي فعالیتونه دي چې د سخت دریځو او حکومت ضد ډلو غړیتوب پورې تړاو لري. همدا راز د رپوټونو له مخې د افغانستان د ښځو انقلابي چپي ټولنه ( انجمن انقلابی زنان افغانستان) (RAWA) لږ تر لږه په هرات کې فعاله ده،[74] دغه ډله د اسلام پالو او بنسټ پالو ډلو تر حاکمیت لاندې ده. داسې ښکاري چې دغه شان فعالیتونه په مزار شریف او هرات کې لږ او یا هم ګوښې پاتې دي خو هلته ګڼ شمیر سیاسي فعالیتونه شتون لري. د هرات پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي یوه ځانګړتیا د مبارزینو د یوې نسبتاً لوړې کچې درلودل دي چې په کې د اسلامي حزب حضور د پام وړ دی.[75] د رپوټونو له مخې د ځان وژونکو بمي چاودنو مشروعیت په ټولګیو کې په آزاده توګه تر بحث لاندې نیول کیږي.[76] خو دغه انځور په کابل او په ځانګړې ډول په جلال آباد کې چیرې چې د زده کوونکو د پام وړ برخه بنسټ پاله دي، په بشپړه توګه توپیر لري. ځینې ډلې چې د افغانستان په پوهنتونونو کې زده کوونکي جذبوي نوې نه دي بلکې په ورانونکو فعالیتونوکې د پوره شهرت خاوندان دي. په عمل کې د بیلابیلو اسلام پالو ډلو تر مینځ

چې د جلال آباد او سیدونکی دی مرکه ؛ دغه مالومات د مرکه کوونکو له خوا د زده کوونکو سره د پټو اړیکو له لارې راغونډ شوې دي.

[73] د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون له یوه استاد سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت

[74] د هرات پوهنتون د حقوقو اوسیاسي علومو د پوهنځي له یوه هزاره زده کوونکي سره چې د غزني او سیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[75] دغه ګوند په رسمي ډول په دوو ډلو ویشل شوی یوه برخه یې قانوني ځانګه ده چې دفتر یې په کابل کې دی او بله ځانګه یې چې لا تر اوسه د ګلبدین حکمتیار له خوا یې مشري کیږي او په بلواګرۍ کې فعالیت لري

[76] د ملي ډموکراتیک انستیتوت له چارواکو سره مرکه، هرات د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د هرات پوهنتون له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د اوبې اوسیدونکۍ دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د هرات پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د لغمان څخه راغلې یوه پښتون زده کوونکي سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

د پام وړ توپیر نه ښکاري. په حقیقت کې خواخوږې بیلابیلو ډلو ته خپله خواخوږي څرګندوي چې دا د یوډول تداخل ښکارندوی دی. په افغانستان کې د بلواګرو حاکمه ډله یعنې طالبان په پوهنتون کې په نسبتاً محدوده بڼه فعالیت لري. ددوی پلویان هیڅکله هم لوستي کسان نه دي او دغې ډلې یواځې له ۱۳۸۵ راهیسې یې د پوهنتون د زده کوونکو په مینځ کې حضور موند او اکثراً هغه پښتانه زده کوونکي چې له ولایتونو څخه راغلي دي او محافظه کار او مذهبي شالید لري ځانته راجذبوي، ددې ډلې حضور د هرات په پوهنتون کې خورا محدود دی د رپوټونو له مخې که څه هم چې ددې ډلې ځیني فعالین د شرعیاتو په پوهنځي کې شته او لمنه یې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ته هم لږه پراخه شوې. داسې نه ښکاري چې طالبان به د کابل په پوهنتونونو کې سازماني حضور ولري یواځې وعظ‌کوونکي او خواخوږې چې مذهبي تبلیغ کوي او یا تبلیغاتي مواد خپرویکوجود دي. خو برعکس داسې ښکاري چې په جلال آباد کې ښه سازمان ورکړل شوی او پیاوړی حضور ولري. د ملګرو ملتونو د سرچینو پر بنسټ د طالبانو حضور او نفوذ د ننګرهار په پوهنتون کې وروسته له اسلامي حزب څخه په دوهمه درجه کې دی څرنګه چې ویل کیږي دننګرهار په پوهنتون کې د طالبانو زیاتره فعالین او خواخوږې د وردک، لوګر او سویلي ولایتونو څخه دي. ویل کیږي چې یو شمیر زده کوونکي په پوهنتون کې لږ تر لږه د طالبانو د فعالیتونو شاهدان وو. یوه سر چینه په جلال آباد کې د اسلام پالو او بنسټ پالو ډلو پیاوړتیا د پوهنتون د ریس په غیر مذهبي تعرضي چلند پورې تړلې بولي چې ګڼ شمیر زده کوونکي دهغه ځیني نظریې د اسلام پر ضد بولي. همدا راز هغه د شرعیاتو په پوهنځي کې چې د اسلام پالو ټینګ مورچل دی د نجونو او هلکانو د ګډو ټولګیو په درلودلو ټینګار کوي. همدا راز د پوهنتون ریس په دې تورن دی چې په ګمارنه کې یې د افغان ملت ګوند لاس درلود. [۷۷]

د هغو ټولو بلواوو سره سره چې د طالبانو له خوا رواني دي د حزب اسلامي بلواګر لا تر اوسه د زده کوونکو په مینځ کې پیاوړې دي او د خپلو فعالینو له لارې خپل حضور د دوی په مینځ کې ساتي. هغه فعالین چې د بلواګرو سره تړاو لري اکثراً د ننګرهار په پوهنتون کې لیدل کیږي چیرې چې هغوی د امریکې پرضد په ځینو مناسبتونو کې لاریونونه سمبالوي، خو دوی همدا شان په کابل او په هرات کې هم خورا کوچنی حضور لري. که څه هم چې په ۱۳۸۸ کال کې ځیني هغه زده کوونکي چې د حزب اسلامي سره یې تړاو درلود د د ملي امنیت د ریاست له خوا ونیول شول چې دهغې ډلې څخه یو کس د چاودیدونکو توکو په درلودلو تورن ؤ د ځینو مرکه شوو په وینا په جلال اباد کې د حزب اسلامي پټ فعالین اکثراً هغه زده کوونکي دي چې کورنۍ یې لا تر اوسه د پاکستان په پنډ غالو او په ځانګړې توګه د شمشتو په مشهور پنډغالي کې ژوند کوي. موجود شواهد څرګندوي چې حزب اسلامي له داسې کورنیو څخه چې تیر ګوندي شالید نه لري غړې راجذبوي. د حزب اسلامي حضور له دې کبله هم په جلال آباد کې پیاوړی دی چې آن په حکمتیار پورې تړلې د حزب اسلامي د غیر قانوني کړای شوې ډلې خواخوږې او غړې ځیني وختونه دا احساس نه کوي چې دوی د خپل د تړاو پټ ساتلو ته اړ دي که څه هم چې دوی دعامه سولې د ګډوډلو د هر ډول نیت له درلودلو څخه انکار کوي. که څه هم چې یو شمیر ښوونکي هم په دې ډله پورې تړلي دي د حزب اسلامي ورانکاره ډله خپلې وړاندینۍ ډلې لکه د سمون ټولنه(جمعیت اصلاح) (چې وړاندې یې یادونه شوې) او د ژمنې ټولنه (انجمن عهد) کومه چې خپل اسلام پاله خواخوږي نه پټوي او د زده کوونکو د هغو ګڼ شمیر ټولنو دهغې غوښتنې سره چې زده کوونکي باید د قوم او ولایت پر بنسټ جذب شي مخالفت کوي ؛ مونږ ددې وروستی حضور په هرات او جلال آباد کې تاییدوو چیرې چې دوی په لیلیو کې حضور لري او کله ناکله د زده کوونکو د ژوندانه د وضعیت د ښه کولو په موخه لاریونونه په لاره اچوي همدا راز یوه خبر پاڼه هم خپروي.[۷۸]

یوه دریمه ډله چې په دې وروستیو کې را مینځ ته شوې د حزب التحریر ډله ده چې په فلسطین کې رامینځ ته شوې او له هغه ځایه نورو اسلامي هیوادونو ته خپره شوې ده. داسې ښکاري چې دا ډله په اصل کې غیر پښتانه او هغه کسان چې له پاکستانه راغلي دي جذبوي، که څه هم چې له هغو درې غړو څخه چې مونږ ورسره مرکه وکړه یو یې پښتون او د پکتیا ولایت اوسیدونکی ؤ. ویل کیږي چې دغه ډله په کابل او همدا شان په هرات کې، په ځانګړې توګه د شرعیاتو په پوهنځیو کې حضور لري. دغه ډله په اوسني پړاو کې له تاوتریخوالي څخه ډکو فعالیتونو څخه ملاتړ نه کوي او ددوی مهم فعالیتونه د شپې پاڼو (شب نامو) خپرول دي. په دې ورستیو کې ددې ډلې لږ تر لږه یو غړی د کابل پوهنتون په لیلیه کې نیول شوی دی. ویل کیږي چې د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي ځیني استادان هم ددې ډلې غړیتوب لري. حزب التحریر په ټولو پوهنځیو کې کلک مذهبي وګړې د جلب وجذب لپاره په نښه کوي؛ د جلب وجذب بهیر د اسلامي پوهې او خبرتیا د یوې ارزونې پر بنسټ ولاړ دی. [۷۹]

---

[۷۷] د عهد د ځوانانو له ټولنې څخه دیوه تاجیک زده کوونکي سره چې د کاپیسا اوسیدونکی دی مرکه، هرات د ۱۳۸۸ کالد تلې میاشت؛ د هرات پوهنتون د حقوقو اسیاسي علومو د پوهنځي له یوه هزاره زده کوونکي سره چې دغزني اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د حفیظ منصور سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د ملګرو ملتونو سرچینې، کابل ۱۳۸۸ کال؛ دننګرهار پوهنتون د حقوقو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لوګر اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشت.

[۷۸] د ملي ډموکراټیک انستیتیوت له یوه چارواکې سره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د هرات پوهنتون له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د اوبې اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د ملګرو ملتونو سرچینه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د طب د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د پکتیا اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د ساینس د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لوګر اوسدونکی دی مرکه، د ۱۴۸۸ کال د لړم میاشت؛ دننګرهار پوهنتون د کمپیوټر ساینس د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د کندهار اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشت؛ د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لغمان ولایت اوسیدونکی دی مرکه د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ میاشت؛ دننګرهار پوهنتون د حقوقو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د لوکر اوسیدونکی د ی مرکه ؛ د هرات پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د هرات اوسیدونکی دی مرکه د ی ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ له یوه تاجیک زده کوونکي سره چې د کاپیسا اوسیدونکی د ی مرکه د عهد د ځوانانو ټولنه، د هرات ولایت د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

[۷۹] د حفیظ منصور سره مرکه ، کابل د ۱۳۸۸ کال د وږې میاشت؛ د هرات پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له یوه هزاره زده کوونکي سره چې د غزني اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ دکابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي له یوه تاجیک زده کوونکي سره چې د لوګر اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کالد تلې میاشت؛ د کابل پوهنتون د حقوقواو سیاسي علومو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د خوست اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له یوه پښتون زده کوونکي سره چې د پکتیا اوسیدونکی دی مرکه ، د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي له یوه تاجیک زده کوونکي سره چې

ځلورمه بنسټ پاله ډله چې مونږ یې په پوهنتونونو کې د حضور په تاییدولو بریالي شوو د هندوکش د پړانګانو( ببرهای هندوکش) ډله ده چې د هغو مخالفت په کلکه سمبولیک دی ددې ډلې د فعالینو کوچنۍ ډله (ښايي یواځې ځلور یا پنځه اصلي غړې) چې له شمال ختیځو سیمو څخه راغلي دي ددې سره سره چې دیوې سیاسي ډلې په توګه راجستر شوې نه ده ظاهراً په کلتوري او نشراتي فعالیتونو کې ښکیل ده. داسې ښکاري چې دا ډله پر سرچینو اتکا کوي او د کارل مارکس او سید قطب له فلسفو او همدا راز په قومي مسایلو کې د طاهر بدخشي له مفکورې څخه متاثره ده. دا ډله د کرزي او د "امریکې له اشغال" سره مخالفه ده. دغه ډله په څرګنده توګه د تامیل د پړانګانو څخه وروسته ځان ګڼي خو لا تر اوسه یې یواځې د غړو دجلب او جذب خبرې یې پیل کړې دي ددې ډلې غړې له هغو کورنیو څخه دي چې د جمعیت اسلامي له پخوانۍ ډلې سره یې اړیکې درلودلې او لاتر اوسه اسلام ته د یوې اصلي مرجعې په توګه ګوري خو خپل باوریې ددې ډلې په سیاسي مشرانو یې له لاسه ورکړی دی.[۸۰]

## د الهام او هڅونې سرچينې

د اسې ښکاري چې هغه پراخه لیوالتیا چې د بنسټ پالو نظریو او باورونو په برخه کې رامینځ ته شوې د هغو لیکنو څخه چې د افغانستان د ښارونو زده کوونکې دهغې لپاره کتاب پلورنځو ته ورځي، سرچینه اخلي. هر یوبنسټ پاله متن چې د امریکې ضد محتوی ولري او په فارسي ژبه ژباړل شوی وي د شهرت درلودونکی وي، ژباړې اکثراً ایراني وي او ډیر لږ امکان لري چې په پښتو ژبه موجود وي. داسې ښکاري چې چهګیورا، فیډل کاسترو، علی شریعتي او سید قطب تر ټولو مشهوروي چې تر هغې وروسته مولانا مودودي او د انقلاب له لومړیو کلونوڅخه یو شمیر ایراني لیکوال د خورا شهرت درلودونکې دي. د سید قطب "د مونږ څه وایو" اثر څو ځلې بیا خپور شوی دی، د فیډل کاسترو او چهګیورا انځورونه اکثراً په لیلیو کې تر سترګو کیږي. دایرانیانو کتابونه د سنیانو له خوا هم لوستل کیږي سره له دې چې په ۱۳۸۶ کال کې پر ځینو ایراني متنونو په وړاندې د هرات په کتابتونو کې غبرګون وښودل شو.[۸۱] د شریعتي سره د ملایانو د مخالفت سره سره، هزاره زده کوونکې اکثراً د علي شریعتي، مرتضی مطهري او کریم سروش کتابونه لولي. څوکاله پخوا مارکسیستي لیکنې په ځانګړې توګه د اقتصاد په پوهنځي کې لوستل کیدې خو د پوهنځي مشرتابه او استادانو دغه کار یې ونه هڅولو او له هغه څخه یې مخنیوی وکړ. ویل کیږي چې د هزاره ګانو په مینځ کې ماویستي لیکنې هم خپریږي خو په خورا احتیاط سره.[۸۲]

---

د بغلان اوسیدونکی دی مرکه، د ۱۳۸۸ کال دتلې میاشت.

[۸۰] د آزادګان دډلې له یوه فعال سره مرکه، کابل د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت.

۸۱ د ملي ډموکراټیک انستیتیوت له یوه چارواکې سره مرکه، هرات د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د ۱۳۵۹ کال له یوه اسلام پال فعال سره مرکه، هرات د ۱۳۸۸ کال د تلې میاشت؛ د حفیظ منصور سره مرکه کابل د ۱۳۸۸ کال د ورې میاشت.

[۸۲] د کابل پوهنتون له یوه هزاره زده کوونکې سره مرکه د ۱۳۸۸ کال د لړم میاشت.

# ۵. وروستۍ نظریې او پایلې

د افغان زده کوونکو په سیاسي فعالیتونو کې د ملاتړ او بغاوت یو ګډ ترکیب موجود دی چې په پرمختللو او د پرمختګ په حال هیوادونو کې عام دی. سربیره پر دې د چپي ډلو کمښت او د اسلام پالو او بنسټ پالو ډلو وده هم په نورو اسلامي هیوادونو کې لیدل کیږي لکه د لیبرال او پر مختیا غوښتونکو ډلو کلکه ټوټه کیدنه.

ملاتړ د سیاسي نفوذ د یوې وسیلې په توګه د ټولنیزو پوهانو له نظره منفي ګڼل کیږي، که څه هم چې د ملاتړ بی ساري ونډه کیدای شي په مثبت ډول هم تعبیر شي. لږ تر لږه افغان دولت او سیاسي مشرانو د لوستو او ځوانو افغانانو د اخلاص اړتیا او د هغې په کاریدنه یې تشخیص کړی ده. د لوستو ډلو قومي ویش د ودې په حال کې دی کوم چې په ۱۳۳۹ کلونو کې پیل او اوس یې عمومیت پیدا کړی هم د بیلا بیلو تعبیرونو سره مخ دی. چې دا د هیواد د سیاسي نظام بریا او دوام لپاره یو ښه زیری نه دی، که څه هم چې پرقومي بنسټ ولاړې ډلې په ځینو حالاتو کې د زیاتو سخت دریځو سازمانونو لپاره ښایي لږ تر لږه د یو ځای نیونکې په توګه وګڼل شي. سیاسي سمبالتیابايد د ځینو ایډیالوژیکي قواعدو پربنسټ وي او قومي پوالی نه شي کیدای چې د بدبینی له مخې وي.

دزده کوونکو د یوې سترې ډلې د په پام کې نیولو سره هغه زده کوونکې چې په فعاله توګه په بغاوتي فعالیتونو کې ښکیل دي که څه هم چې په تدریجي توګه د زیاتیدو په حال کې دي خو په پرتله ایزه توګه له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته یې شمیر کم دی. سره له دې که مونږ په ځانګړي ډول پښتنو زده کوونکو ته ځیر شو نو وینو چې مخالفو وسله والو ډلو سره ددوی خواخوږي مخ په پراخیدو ده. د ننګرهار پوهنتون چې د پام وړ پښتنو زده کوونکو په درلودلو سره یواځینی پوهنتون دی چې په دې ځیرنه کې ګډون لري، همدا حالت په کې لیدل کیږي، خو ورته بهیر کولای شو تر یوه حده د هغو پښتنو زده کوونکو په مینځ کې چې د کابل او هرات په پوهنتونو کې زده کړه کوي ووینو. د بنسټ پالۍ لومړنی نښې د غیر پښتنو زده کوونکو په مینځ کې زیاتره د هغو کسانو په مینځ کې چې د حزب التحریر څخه ګټه پورته کوي پیل شوي دي. ددې تمایل پایلې یواځې د یو پام وړ ګواښ د په پام کې نیولو سره له پامه غورځیدلای شي: بنسټ پاله زده کوونکي کولای شي له بلواګرۍ سره مرسته وکړي. داسي یو سیاسي نظام چې د ټاکنو او استازیتوب له لارې یې د نارضایتیو د څرګندولو لپاره یو ربښتیني فرصت برابر کړی ښایي ځیني دغه موجودې ماتې له مینځه یوسي؛ که څه هم چې د ۱۳۸۸ کال د ټاکنیز سیستم بی اعتباره کیدل نوو ګړنګونو ته ورسیده.

یواځې افغان لوستو او د پوهنتونونو څخه د نوو فارغ شوو زده کوونکو یوه خورا کمه شمیره په روانو بلواګریو کې ښکیل دي چې دا د خواخوږۍ دنه شتون له امله نه بلکه احتمالاً د هغو سرښندنو له کبله چې دا ډول فرصتونه یې غوښتونکي دي وي. د بلواګرۍ په لور د زده کوونکو له خواخوږۍ څخه محدوده مخنیوي هم ښایي وکړای شي ددې په لور ددوی د نه هڅوني په برخه کې مهمه ونډه ولوبوي. له دې کبله د احتیاط سپارښته کیږي، چې د بلواګرۍ سره د مرسته کوونکو په توګه د زده کوونکو په ښکیلتیا کې د پام وړ زیاتوالی ښایي په راتلونکې کې د تادیب لامل شي.

هغه لاس ته راغلی ټولیز انځور څرګندوي چې لاهم د هیواد یو ستر اکثریت د ددغه سیستم ملاتړکوونکی دی. خو دا ملاتړ اکثراً دومره پیاوړی نه دی ځکه چې دوی د خپلو ګټو په لټه کې دي او یوه پیاوړې مخالفه لړګکې هم ددې نظام نسبي ښېګڼو لکه د بیان او د سازمانونو له آزادی څخه په خپله ګټه کار اخلي. خو په نورو هیوادونوکې ښایي دا باور وي چې بغاوت کوونکې زده کوونکې د خپلو زده کړو او پوهنتون څخه له فارغیدو وروسته او کله چې په خپله دنده او د کورنۍ په جوړولو پیل کوي نو په یوه ډول د زده کړې د دوران له بغاوت څخه لیرې کیږي او بیرته عادي ژوندته راګرځي خو په افغانستان کې د ځوانانو په مینځ کې د بیکارۍ د لوړې کچې له کبله ددې کار تضمین شونی نه بریښي.

په پای کې د افغانستان د زده کوونکو دغه له ستونزو ډک وضعیت د ټول هیواد وضعیت منعکسوي که چیرې ملي سیاسي فعالیتونه دې لارې مشري ونه کړي نو دا چې د زده کوونکو سیاسي فعالیتونه څه ډول سمبالیدلای شي ، تصور به یې خورا ستونزمن وي.

## ضمیمه: د یادو شوو سازمانونو لنډیز

**افغان ملت:** یوه ملت پاله ډله چې خپل ځان د افغان سوسیال ډموکراټ ګوند هم بولي.

**افغانستان نوین (نوی افغانستان):** د شورای نظار څخه یوه بیله شوې ډله

**انجمن عهد (د ژمنې ټولنه):** د زده کوونکو سازمان چې اسلام پال خواخوږي لري

**انجمن دانشجویان افغانستان (د افغاستان د زده کوونکو ټولنه):** د نجیب الله پژمان په مشری ډله ده چې په ۱۳۸۱ کال کې رامینځ ته شوې ده.

**انجمن انقلابي زنان افغانستان یا راوا (د افغانستان د ښځو انقلابي ټولنه):** د ماویستو ښځو ډله ده چې له ډیرې مودې راهیسې په اصل کې د ۱۹۸۰ لسیزې په اوږدو کې د پاکستان د کډوالو په مینځ کې او د ۱۳۸۰ کال را وروسته د هیواد په د ننه کې فعالیت لري.

**انجمن رضا کاران (د رضاکارانو ډله):** د اصغر اشراق له خوا یې مشري کیږي د اقتدار ملي د ځوانانو سازمان وګورئ.

**ببرهای هندوکش (د هندوکش پړانګان):** د چپې، اسلام پالو او قومي – ملت پالو فعالینو د یوبیلابیل ترکیب درلودونکې ډله..

**دعوت اسلامي:** دیخواني اتحاد اسلامي ډله ، چې ددې ډلې مشر رسول سیاف په ۱۹۷۰ لسیزه(۱۳۴۹) کې د پروفیسور رباني د جمعیت اسلامي ډله یې پرینبوده او خپله ډله یې جوړه کړه.

**د سولې غورځنګ:** د شهنواز تنې په مشری د خلکو د ډموکراټیک ګوند یوه ځای نیوونکې ډله.

**د سولې کاروان:** د ارسلا په نامه د ننګرهار د یوې خورا ځواکمنې کورنۍ د زوی حاجی عبدالقدیر د زوی حاجی عبدالظاهر په مشری ډله چې په ننګرهار کې یې مرکزدی.

**حرکت اسلامي:** د شیعه اسلام پالو یوه ډله چې په ۱۹۷۰ لسیزه کې( ۱۳۵۰) را مینځ ته شوې او له ۱۳۸۰ څخه وروسته په څو ډلو ویشل شوې ده.

**حزب آزادګان( د خپلواکو حزب):** سازمان انقلابي زحمت کشان افغانستان( د افغانستان دزیارکښو انقلابي سازمان) وګورئ.

**حزب آزادیخواهان (د خپلواکی غوښتونکو حزب):** خپلواکي غوښتونکې ډله چې له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته را مینځ ته شوه

**د خلکو ډموکراتیک ګوند:** په ۱۳۴۴ کال کې د څو چپي ډلو څخه جوړ او وړاندې تر دې چې په کې یو لړ بیلتونونه را مینځ ته شي چې تر ټولو مهمې برخې یې د خلق او پرچم ډلې وې، دې ډلې دیوې مودې لپاره شوروې پلوې چپیان یې سره یوځای کړي وو.

**اسلامي حزب:** دمسلمانو ځوانانو د ډلې باندې له ویشل کیدو وروسته د افغانستان یو له مهمو اسلام پالو ډلو څخه وشمیرل شو.

**د جمهوري غوښتونکو ګوند:** یوه غیر مذهبي ډله چې ښځیو او چپو ډلو په مینځ کې ځای لري چې په ۱۳۶۹ کې را مینځ ته شوې ده.

**حزب متحد ملي (د ملي متحدګوند):** د جنرال علومي په مشری د پرچم د ډلې ځای نیوونکی.

**د وحدت اسلامي ګوند:** په ۱۳۶۷ کال کې د څو هزاره ډلو له خوا چې زیاتره یې خمیني پلوې وې رامینځ ته شوی چې بیا ډیر ژر په سیالو ډلو وویشل شو. دغه بیلتون او ټوټه کیدنه له ۱۳۸۰ کال څخه وروسته یې هم دوام درلود.

**حزب التحریر:** دغه ګوند په اصل کې په فلسطین کې را مینځ ته شوی او له هغه راهیسې د نړۍ په ګوډ ګوډ کې اسلامي ټولنو ته یې لمنه پراخه شوه یوه اسلام پاله ډله ده چې د خلافت دبیا رامینځ ته کیدو څخه ملاتړ کوي.

**انسجام ملي (ملي همغږي):** د حرکت اسلامي او نورو هزاره اسلام پالو ډلو له بیل شوو غړو څخه را مینځ ته شوی.

**اقتدار ملي:** هغه ډله ده چې د حرکت اسلامي څخه را مینځ ته شوې ده.

**اتحاد اسلامي:** دعوت اسلامي وګورئ.

**جبهه روشنفکران افغانستان (د افغانستان د روڼ آندو جبهه):** د اسماعیله دډلې د مشر سید منصور نادري له خوا جوړه شوې ډله ده.

**جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعي افغانستان (د افغانستان د ټولنیزې پراختیا او سمون ټولنه):** دسیاسي شوو زده کوونکو سازمان دی چې په دې وروستیو کې د عاطف الرحمن له خوا چې د تخار اوسیدونکی دی را مینځ ته شوی دی.

**جمعیت اسلامي:** هغه مهمه ډله ده چې د مسلمانو ځوانانو ډله ورڅخه بیله شوې او د افغانستان له مهمو اسلام پالو ډلو څخه ګڼل کیږي.

**جوانان مصلح (سوله غوښتونکي ځلمیا ن)** د زده کوونکو هغه ټولنه ده چې د هرات په پوهنتون کې د ۳۵۰ غړو د درلودلو ادعا کوي.

**جوانان مسلمان( مسلمان ځلمیان):** د مصر د اسلامي اخوت د ډلې افغاني بڼه، په سیالو ډلو تر ویشل کیدو وړاندې د افغانستان یو مهم اسلام پال سازمان ؤ.

**جنبش جوانان افغانستان( د افغانستان د ځوانانو جنبش):** په جنبش ملي اسلامي پورې تړلی د ځوانانو یو سازمان.

**جنبش ملي اسلامي ( د افغانستان ملي اسلامي جنبش):** په ۱۳۷۱ کال کې د جنرال رشید دوستم له خوا د ازبکانو څخه جوړه یوه ډله ده.

**کنګره ملي:** د لطیف پدرام په مشرۍ یوه قومي ملت پاله ډله ده.

**خلک:** د خلکو ډموکراټیک ګوند وګورئ.

**کلپ ملي( ملي کلپ):** د صدراعظم داود خان له خوا په ۱۹۴۰ لسیزه کې د هغه د مدرنیزه کولو د موخو دیوې وسیلې په توګه را مینځ ته شوې ډله.

**مسجد شورا( د شورا جومات):** د ننګرهار په پوهنتون کې د زده کوونکو بانفوذه شورا ته ورته سازمان.

**میلاد نور( د رڼا زیږون):** په شیخ آصف محسني او حرکت اسلامي پورې تړلې ټولنه چې مرکز یې په کابل کې دی.

**نهضت مدني افغانستان:** د هزاره ګانو څخه جوړه ډله چې په دې وروستیو کې رامینځ ته شوې ده.

**نهضت ملی:** د شورای نظار څخه بیله شوې یوه ډله.

**پرچم:** د خلکو ډموکراټیک ګوند وګورئ.

**سازمان دموکراتیک زنان افغانستان(د افغانستان د ښځو ډموکراټیک سازمان):** د فعالو ښځو یوه چپي ډله ده چې په ۱۹۶۰ لسیزه کې د خلکو د ډموکراټیک ګوند سره په تړاو کې را مینځ ته شوی دی.

**سازمان انقلابي مردم افغانستان (د افغانستان د خلکو انقلابي سازمان):** د ماویستو او ملت پالو ډلو یوه متحده ډله چې په ۱۹۷۰ لسیزه کې را مینځ ته شوې ده.

**سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان(دافغانستان د زیارکښو انقلابي سازمان):** یوه چپي ډله ده چې په افغانستان کې د پښتنو د تفوق یا بروالي سره مخالفه ده، چې اوس د ورته ډلو سره یوځای د آزادګانو له ډلې سره یوځای شوې ده.

**د اقتدار ملي د ځوانانو سازمان:** په اصل کې انجمن رضاکاران یا د رضاکارانو ټولنه ده چې د مصطفی کاظمي د اقتدار ملي د ډلې له خوا ددې ګوند د ځوانانو د څانګې په توګه منل شوې ده.

**سازمان جوانان مترقي** (د پرمختللو ځوانانو سازمان) لومړنی ماویستي ډله ده چې له غیر رسمي دایرې څخه بهر جوړه شوې ده، چې وروسته بیا په څو سیالو ډلو وویشل شوه.

**صدای آرمانان:** د ذبیح الله عصمتي په مشرۍ د نوو نظرونو درلودونکې ډله ده چې په ۱۹۶۰ لسیزه کې رامینځ ته شوې ده.

**شورای متحد ملي (ملي متحده شور)ا:** هغه ډله ده چې د حفیظ منصور له خوا چې د پخوانی شورای نظار د ډلې یو روڼ آنده غړی دی مشري یې کیږي، چې اسلامي او قومي اندیښنې سره تړي.

**د نظار شورا:** د جمعیت اسلامي یوه داخلي ډله ده چې په اصل کې د احمد شاه مسعود له خوا یې مشري کیده.

**ویښ ځلمیان:** په افغانستان کې هغه لومړنی خوځښت دی چې په ۱۹۴۰ لسیزه کې را مینځ ته شوی دی او لیبراله سمون غوښتونکې ډله ده.

د دې څیړنې مالي لګښت د اسیا فونډیشن له خوا د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیایي اداري (USAID) په مرسته برابر شوی دی. څیرنیزې مرستې یې د سولې او یووالي لپاره د همکاری د ټولنې (CPAU) له خوا برابرې شوې دي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې وروستی خپرونې

| | |
|---|---|
| ۲۰۰۹د ۲۰۱۰ کال مي | ټول ګلان څه شول؟ په افغانستان کې د ترياکو د اوسني توليد د کمښت ددوام ا ر زونه، د ډيويډ منسفيلډ ليکنه |
| د ۲۰۱۰ کال مي | د شواهدو پر بنسټ: حکومتداري، عدالت او پراختيا( د کابل د کنفرانس لپاره برابرې شوې پاليسي پاڼې) ^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د کوکنارو د کرکيلې کمول: اغېزې او لاملونه، د جي لمي ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | په افغانستان کې د پاريس د اعلاميې او د مرستو د اغېزمنتوب په هکله غبرګونونه (پاليسي پاڼه)، د ربکا رابرتس ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعيت (پاليسي پاڼه)، د ايميلي وينټر بوتم ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د اندولي ودې او د بيوزلى د راټيټولو لپاره د هڅو سمون، د پاولا کانټور ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د افغانستان د معيشت تګ کرښې: د کندهار څخه شواهد، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | * په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضيعت: فعالين، تګلارې او ننګونې، د ايميلي وينټر بوتم ليکنه ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال مارچ | د افغانستان د معيشت تګ کرښې : د بدخشان څخه شواهد، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۱۰ کال مارچ | د ۲۰۱۰ کال د افغانستان مرستندوی لارښود( اتمه ګڼه) ليکنه^ * |
| د ۲۰۱۰ کال فبروري | *د ملاتړ او بغاوت تر مينځ: په افغانستان کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه، د انتونيو جيوستوزي ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال فبروري | *د افغانستان د څېړنې خبر پاڼه، ۲۴ مه ګڼه^ |
| د ۲۰۱۰ کال جنوري | په افغانستان کې ديو بريالي مايکروفينانس د سکټور جوړونه، د پاولا کانټور او ايرينا اندرسن ليکنه^ |
| د ۲۰۰۹ کال دسمبر | د افغانستان لپاره يو هر اړخيز قضايي سيستم ، د ديبرا.ج . سميت او جي لمي ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال دسمبر | د باميان په ولايت کې د ځايي ټولنو د شخړو د حل بهير، د ديبرا.ج .سميت او شيلي منالن ليکنه |

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څیړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکې څیړنو له لارې پرپالیسی او چارومثبتې اغیزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅیړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والي دي.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ اود یو مدیره هیات درلودونکی دي چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند، ناروې، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، آسیایي بنیاد (TAF)، اروپایي کمیسیون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM)، او نړیوال بانک له خوا یې مالي ملاتړ کیږي.

ژباړونکې: ماری شیرزاد   طراح او ډیزاین وکیل وسیم